د اروا بنیاد دکتور محمد سعید «سعید افغانی»
داوم تلین په منا سبت

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

د نجات او کامیابی لیارد علم او فلسفی له نگا

دکتور محمد سعید «سعید افغانی»

د چاپ کال ۱۳۷۰

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

داروا بنیاد دوکتور محمد سعید
«سعید افغانی» داوم تلین په مناسبت

د نجات او کامیابی لیارې د علم او فلسفې پر نګاه

مولانا دا کتر سعید «سعید افغانی»

کابل - ۱۳۷۰

د نجات او کا میا بی لیاره
د علم او فلسفی په نګاه
داسلا می شؤنو اواوقا فـو وزارت‌دځپرو تو له ریا ست څخـه
مولف : دوکتور محمد سعیـــــد «سعید افغا نی»
د لیکلو نیټه : کابل ـ ۱۳۴۹
مهتمم: محمد اسما عیل دپیلم حق مجلی مسوول مدیر
شمیر: (۳۰۰۰) تو که
د چاپ ځای : آریا نا مطبعه
د چاپ کال : کابل ـ ۱۳۷۰

دمطالبو فهرست

عنوان	مخ
یادونه	یو
سر یزه	الف
د بشر سعادت په څه کښی دی	۱
د قهر او غضب علاج	۵
د زړه سوړ والی	۲۳
غفلت	۲۹
د حیرا نوالی علاج	۳٤
زه با ید څه وکړم	۳٦
د بسیطه جهل علاج	٤۰
دمرکب جهل علاج	٤۵
پیژ ند نه	٤۸

عنوان	مخ
د سعادت معراج	۵۲
د دنیا مو فقیت	۵۷
دویری علاج	۶۳
دمرګ د ویری علاج	۶۸
عالی همت	۷۷
د شهوت د افراط او غلیان علاج	۸۰
دځوا نانو دپاره	۸۸
قناعت څه معنی لری	۹۴
د دوکتور سعید افغانی اثار او تالیفات	۹۸

پاڼه

زموږ په ګران هیواد افغانستان که دیني پوهانو او مخورو عالمانو تاریخ په اوږدو کې دخپلو خلکو لپاره دقدر وړ خدمتونه کړي او داسلامي علومو د څیړنې په برخه کې ډیر داسې آثار لیکلي چې د لوستو نکو دیني تنده پرې ماتیږي.

ددغو دیني پوهانو او عالمانو په ډله کې محترم مرحوم دا کټر صاحب محمد سعید سعید افغانستاني درو پوهانه ستوري څو ندې خلیږي چې دهغې زیاتو آثارو او رسالې پدې ورستیو کلونو کې چاپ شوي او په هغې کې ډیر زموږ د مسلمانو خلکو دردونه او دیني ضرورتونه پوره څیړلې او په ګړه لیکنو کې ډیرې ښه او سوکاله زوند لپاره داسې جملې په سترګو لګیږي چې هغه دبشر یت لو مړنۍ ضرورتونو او داسلامي ډیرې دموفقیت او نیکمرغۍ زیرې له ځانه سره لري.

دغه محترم دینی ستر عالـــم دسولی آوتفاهم لپاره مبـــارزه او
داسلامی نړی دو حد ت او یوا لی لپاره تری زمو پر داسلا می هیواد
دتو لو خلکو دیوا لی په هکلـــه زیات آثار لیکلی دی .

او دهغی تر شنګه لی د خلکـو ددینی او علمی کندی دما تو لـــو
ژیا تی هڅی کو لی چی دغه قلمی اثر دهغی ښه بیلګه بللی شو .

پدغه رساله کی چی د (د نجات او کامیا بی لپاره دعلم او فلسفی
په نګاه) تر عنوا ن لاندی لیکـل شوی مر حو م مو لو ی محمد سعید
سعید افغانی خپلو مسلما نانـــو هیواد والو ته دهغو ی دستونز او
دحل لپاره لټولی او دوی ته نـــی دمحمد ی شر یعت په رڼا کی دژوند
کولو تو صیه کړ یده .

د اسلامی شئونواولو قا فـــــو وزار ت دنشرا تو اداره افتخارلری
چی ددا سی ستر دینی عالم اودخپلو خلکو د سو کالی لیکوا ل هغه آثار
چاپ ته سپار ی چی تر میر نـــی مخکی ئی لیکلی و او د خا لق متعال
له دربار څخه هغه ته در حمت او مغفر ت غو ښتو نکی یو .

امین یار ب العا لمیـــــــن

الحا ج محمد و لـی فتـــــی

نشـــرا ت رئیس

«بسم الله الر حمن الر حیم»

الحمد الله و کفی و الصلـــوة والسلام علی عباد ه الذین اصطفی.

اما بعـــد .

گرانو ورو نو عز یزانو زه‌محمد سعید (سعید افغا نی) دمو لنـــا عبدا لمجید (صافی) ځوی دمشرقی په‌سمت دلغمان په‌حکومت د عمر ـ زائی په علاقه دخیر اباد په کلـی کښی ځیږ یدلی او او سیدو نکـی یم . زه په داپو هیږم چه تا ســو په ما ډیر حقو ق لری او خپـــل مسئو لیت تر یو ی‌انداز ی پیژ نم‌زه مقریم ماپه خپل حیا ت کښـــی داسی یو څه خد مت و نه کړی‌شو چه هغه دستاسو د حقو قو داداءپه حساب کی شمار شی هو : زه‌مقریم‌چه قاصر یم مګر په‌دا فکر کښـی اوس دی مر حلی ته ور سید لـم‌چه قلم را اخلم د حکمت اوداخلاقو او تاریخ دموثوقوکتابو مطالعی‌څخه وروسته دفکر او تعقل ځنی څه لیکم او په ضمن کښی یو څه خپلـــی تجربی او معلو مات هم پـــــر ی

زیا توم . زه پدی کتاب کښی غواړم چه درو حی او لنډی مهمو امراضو علاج او اجتماعی لیار ښو نـــی راتو لی کړم . او د دی امراضـــو علل او مناشی پیدا او بیا د هغـی په منا سبت د مرض معالجه وښیم او مقصد می په کښی همغه دی چه گو ندی که یو څه په خدمت کښی حساب شی که څه هم په هر شـی کښی ښه نیت د ثواب مو جب گرځی او دنیت برابرو ل گـران کار دی لکن زه د قا در او مقتدر ذات څخـی ددی التما س کوم چه د کتاب دښه والی په اثر زما په نیت کښی څه خلل او غشی وی په خپل فضـــل او کرم ئی سره د نورو تو لو گناهونو عفه کړی هیله لرم چه ددی کتاب په واسطی د ټول بشر او علـــی الخصو ص افغا نستا ن ته زیا ت خیرونه ور سوی او دملت په کتـه لی تمام کړی .

زه پدی وسیله دالله پاك څخـی داهم غواړم چه قول مود عمل سره برابر پو هان مود ناپو هانو مربی او نا پو هان مود پو هانو مطیـــع او فرمان قبلو نکی و گرځو ی .او په ښه کار او عملی مودد لیا اود آخرت دسعادت لو یو مراتبو تـه ورسو ی .

امین یارب العلمین . الهی :ته موموفق کړی او زمونږ د ژو نـــد روانه قا فله پوره تر مطلبه ورسوی.

(سعید افغانی)

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

آریانا مطبعه

PROPERTY
ACKU
8527

دبشر سعادت په څه کې دی؟

گران لوستونکی په ددی پـــوښتنی دځواب دپاره هریو ځا نلـــه څه په خیال کښی لری هو :دپـــوهانو فکر یو وخت داسی مر تبـــی ته رسیږی چه واړه واړه شیا نـو ته اهمیت نه ورکوی اوپه تـــدن یجی صور ت سره دکور ځنی کلـــی ته اود کلی ځنی قری ته لود قـــری ځنی علاقی ته او د علاقی ځنـــی سمت ته اود سمت ځنی مملکت او وطن ته او دوطن ځنی دنیا تـــه دفکر ورا نگی او پلوشی خپرو ی او ددنیا اصلاح او اتحاد او تر قی اوارای د نظر لاندی راو لی .دارنگه افکار د هغو اشخا صو په نصیب کیږ ی کوم چه ددو ی اصلا حـــی سیر او حر کت ځنی د ښی تر بیی په مرسته مخ په انسا نیت روا ن وی په یاد لری .کوم هغه و طن او جامعه چه هلته پو هان خپل مسئو لیت پیژ نی په داسی جا معـــه او وطن کښی خلك دیر درو ښا نه احسا سات خاو ندا ن وی اودعمل اوامل اساس اوبنیادنی اود حیـــات

اوژو ند ثانیی اودقیقی لی تـــول داصلاً حی افکارو او د بشرد سعاد
دت دتارو نو ځنی بوده او تنسته وی شك نه شته چه که نن پـــه
دنیا کی یه یوی خوا سخت زور اوظلم او دسیا ست په طلسمی پرده
یښی رنکارنکی نه او چانسونه روان دی لیکن لـــه بلی خواآه او
زیړ و نه شته او دبشر دحقو قواو دآزاد ی او ارامی او سعا د تد
پاره کی خبو ی اتر ی او ریـــد لکیږی. که څه هم په زړو نو کښـــی
به هرڅه وی او افکاربه د حـــرص په مر ض علیل وی . لیکن حقیقت
داد ی چه ځنی خلك د بشرد سعادت او ازو نه هم پور ته کوی اوداهم
ده چه په دی اوازو نو کښی دد نیامصلح سیا سیو نتبصر ی کوی او
په تبصر و سره پو شیده اومـــر موزه اسرار او اعراض کشفو ی او
وائی چه په داخبره کښی دا مقصددی او په دا کښی دا با ید ووا یم
چه نن په دنیا کښی له یوی خـواسخت رو حی امرا ض او اجتما عی
مفا سد لیدل کیږی او له بلی خوادپو هانو هلی او ځلی قا بل التر-
حم معلو میږی . بیا هم نا امید ی په کار نده او دومره باید مایوسه
نشو چه د بشرد سعاد ت د پاره به هیڅ نکړو او دا ځکه چه قدر تد
هر انسا ن په خپله او سر شـــت کښی متضاد ی قواو ی تخلیق کړ ی
د ی.

هو : بخل، حسد،حرص،کینه ،ظلم ،تعـــد ی ،غدر ،خیا نت،او

داسی نور علمی او اخلاقـــــی او اجتماعی ، او اد بی ، اوسیاسی مفاسد ،او خطاوی ، که د حضـرت انسان څنی تر شح او بروز کو ی لکن ربنتیا خبره داده چه په هـــم دا انسان کښی داقو ت او طا قـت او صفت هم شته چه د عا جزا نو سره مرسته کوی او د خپـل لاس گټه او حاصل د خلکو په رفاه اواسا یش کښی مصر فو ی اود خلکو دخطا وو څنی عفوه لری اودعفـوی څنی ورو سته بیا په صاف زړ ه محبت او خد مت کوی . هم دانسان دی چه دانسا نډپاره ئی علمی او اخلا قی او اجتماعی او اد بـــی اوسیاسی لیار ی او پا نکی پیدا کړی او دتمد ن او داجتما ع په بر کت ئی انسان دو حشت او بر بر یـت څنی خلاص او په علمی او فنی اوزراعتی او اقتصا دی چارو سره ئی دحیات په مستر یحو مراحـــلو اومراتبو پوه او خبر کړو مقصـــد دا چه که څه هم په انسا ن کښـــی منفی قواوی شته او دا منفی قـــوا ـ وی ګله شدت او غلیا ن لری اوددنیا هوا تار یکو ی لیکن دانسا ن سره لکه چه مخکی مو وو یلـــی دا قو ت او طا قت هم شته چـــه مثبتو قواوو په بر کت دحیات فضاءصا فه وی او دبشر د سعا دت دپاره ګټه مت کوی زما په عقیـــــــد ه چی بشر حقیقی سعا دت به هلکـــه سعا صل څنی چی مادیت او رو حا نیت تعا دلی رنګ قبو ل کـړی نکـــه دا فکر غلطه دی چی دنیا یـــوا زی دما دیت په اساس قا ئمه ده اړهرڅه

به په همدا کښې دی چه مـــــا دی‌ځیان لوړ ښی همدا رنګه د اهـــم صحیح نه ده چه‌په دنیا کښې بـــه یوازی رو حا نیت دحیات اساس‌وی نه بلکه باید دادواړه په‌تعادل سره‌صو رت او اساس پید اکړی نوپدی اساس ددنیا پوهان دی دما دیت اورو حانیت دتعا دل دپاره لد مـــت وکړی اودرو حی او نفسی مهمـــــوا مراضو دی په ښه شان سره علاج او اجتما عی لیار ښو نی وکړی.

د قهر او غضب علاج

هغه څه چه لیدل کیږی د دنیا اکثری بی نظمی دقهر او غضبی اثرات دی
نو ځکه دهر څه نه اول دقهر او غصی اساسی چاره په کاروده . قهر او
غضب یو دا سی نفسا نی کیفیت او مرض دی چه په داسی وقت کښی
روح او د بدن حیوا نی قواوی د دننه وجود څنی بیرون خوا ته دو تلو
حرکت او فعا لیت او جد یت کو ی او د دی مرض سبب او علت دهغه
انتقام اخستلو حس دی چه په مغزو کښی دکومی موجبی له اثره پیدا
شوی دی او کله چه دا قسم حرکت او فعالیت زیات قوت او شدت مونده
کړی نو پداسی وخت کښی د مـــاغ او عصاب چه د نفسانی روح د تګ او
راتګ لپاره دی دیو تاریك او مظلم دود څیتی دڼ شی اوددغه دود دتار یکـی
له امله دعقل نور په پرده کښی واقع شی ترڅو دفعالیت او لیار ښو نـی
څنی ولویږی باید ووایو چه د غضب د آخری مرحلی علاج مشکل ښکار ی
ځکه چه هر څومره نصیحت او منت وشی هغو مره د غضب اور په اشتعال

اولمبو راځی مګر دومره کیدلی شی که غضب ناکسړی په دا وخت کښی خپلی وضعی ته تغیر ورکړی یعنـی ناستی ځینی ولاړی ته اودو لا ړ ی ځنی نا ستی خوا تـــــــــــه انتقال وکړی نودغضب شدت اوتیزی په یی څه لږ شی .

وایی: که دغضب په وخت کښـی سړی یخی اوبه وسکی او یا ویده شی غضب به یی تخفیف پیدا کړ ی . دا باید په یادولرو چه مزاجونه دغضب په وخت کښی په څلور ډوله دی .

(۱) ځینی مزاجونه کبریتی صفـت لری چه دلږی څه واقعی په اثر اور اخلی .

(۲) ځینی دوچ لرګیو په شانی په اشتعال کښی دکبریت ځنی بطی وی.

(۳) ځینی د غوړیو غوندی چـه اول اور نه اخلی اوکه اخلی نو بیـا لمبی وهی .

(٤) ځینی خلك بیاپه دیـــــری سختی په قار کیږی اوچه په قار شی نو بیا بالکل انفلاق کوی .

همدا وجه ده چه د غضب د څلورم قسم ځنی رسول اکرم صلی ا للـه علیه وسلم خلك ویرولی دی.

فرما یی (ایاکم والغضب الغلیـــم) دحلیم سړی د قهر ځنی وو یریږ ی په حدیث شریف کښی را غلی چه بنی آدمان په غضب کښی څلور طبقی دی

(۱) څخرده په قا ریږی اوځخرده د قهر ځنی گر ځی.

(۲) وروسته په قار ږی اوځخـرده منحرف کیږی .

(۳) وروسته په قاریږی اووروسته دقهر ځنی اوږی.

(٤) ځخرده په قار ږی او ډیـر وروسته دقار ځنی خلاصیږ ی .

بهترخلك هغه کسان دی چه ددوهم قسم ځینی وی اوبد ترین د خلکو هغه خلك دی چه دآخر قسم ځنـــی وی .امام غزالی رحمت الله علیـــه فرمایی ددی له املـه چه غضب داعتدال دحد ځنی سړی باسی نوځکه دقدرت خاوند ته په کارده چه غضب پـــه وخت کی دی په چاد عقو بـــت ا و ا مر نه صـــــــا در و ی . اودلځکه نه چه دغضب په اثـــر د عدالت اندازی ځینی تجاوز وکړی همداوجه وه چه امیر المو منین حضرت عمر بن خطاب (رض) یو ورځی یـــوست په مسکراتو نیشه سړی ولیدی وی غوښتل چه په دروئی وو هـــی مگر هغه چه داوضعیت حس کړو نو په کنځلویی پیل وکړه همغه و چـه حضرت فاروق (رض) ورته ســـزا ورنه کړه وی وویلی زه ده په قهـر او غضب راوستلم نوکه په درویـی ووهم احتمال لری چه د قهراوغضب له املـه به یی ووهم نه د خدای لپاره پوورځی کوم مجرم سړی د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمت الله علیه] په حضور دبی ادبی په قواره خبر ی وکړی عمر بن عبدالعزیز وویلی که په قهر کړی دی نوی نو په عقـا ب کړی به می وی .

اوس به رایشو دیته چه غضب اوقهردا سبابو اوعللو له تحـــوا تحلیل کړو ترڅو دهر سبب پـــه مناسبت علاج اواصلا حات وشی څنګه چه لیدل کیږی د غضب اسباب لس دي.

(۱) خپـــل ځـــان لیـــد ل ،(۲) فخر کول ،(۳) په خبرو کښـــی تیزی، (٤) په خبره کښی ټینګید لاومخا لفت ،(٥) ټوکی ،(٦) تکبـر ، (۷) استهزا اوپه بل خندل ،(۸)غدراوخیانت ، (۹) دانتقا م په صورت کی ظلم کول ،(۱۰) ښو شیا نو پسی افراطـــی هڅـــه . او کـــوم هغـــه عواقب چه دغضب څخه ورو سته پیدا کیږی اوه دی .

(۱) پښیمانی (۲) دانتقام او بدلی اخستلو ځنی ویره چه یا به یی په دنیا اخلی اویا به یی په آخرت کښی(۳) ددوستانو دښمنی (٤) داراذلـو استهزاء (٥) د دښمنانو خـو ښی(٦)د قهر ځنی ورو سته دمـــزا ج تغیر (۷)دغضب په حالت کښـــی درد او تکلیف .

حقیقت دادی چه غضب د یوساعت لیونتوت دی حکماء وائی د غضـــب ناکو خلکو مزاج داعتدال ځنی زیات حرارت خواته مایل وی او که داقسم مزاج دوام وکړی نویو قسم جنو ن تری پیښیږی چه هغی ته د اطباءو پـه اصطلاح کښی سبعی (ددرنده ګانو) جنون وائی حضرت علی کرم الله وجهه فرمائی تیزی (یعنی غضب) دجنون له اقسامو ځنی ده که غضب ناکه سړی پښیما نه نـه شـی حتمـا عبه داجنون محکم شوی وی اودزیات عضب

په اثر داسی هم کیږی چه کله روح دانقباض په اثر باندی سخت حرکت کوی او پدی اثر احتما ل لری زړه چه دحیوانی روح منبع دی خالی پاتی شی اوکوم هغه رو ح چه دزړه ځنی اعضا و ته رسیږی او په هغه سره دانسان نورم راځی قطع کیږی اوداسی هم کله کیږ ی چه دغضب دحرارت په اثر دروح جوهر سوزی او یو نا څا په سړی مری . او کله داسی هم کیږی چه کوم هغه اخلاطه چه دبدن دقوام دپاره ژیات ضرورت لری وسوزی اوردیه امراض ترینه پیداشی او دوخت په تیریدو دهلاکت موجب گرځی. بایدومنوچه د غضب مرض سخت مرض دی نوځکه کله چه حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه دحضرت مصطفی صلی اله علیه وسلم ځنی دنصیحت غوښتنه وکړه رسول صلی اله علیه وسلم په دری واری وویل چه دغضب ځنی ځا ن وسا تی. دصحابه وځنی یو دحضرت محمد مصطفی صلی اله علیه وسلم حضور ته راغی پو ښتنه ئی وکړه چه دین څه شی دی رسول صلی اله علیه وسلم ورته په ځواب کښی وفرمایل چه دین ښه خوی دی داسی بیاد رسول صلی الله علیه وسلم ښی خواته راغی او همدا پوښتنه ئی وکړه حضرت صلی اله علیه وسلم ورته همدا ځواب وویلی په بل کرت دی درسول صلی اله علیه وسلم دچپ پلوه راغی او همد اپوښتنه وکړه او همدا جواب ئی واورید .په څلورم کر ته درسول صلی اله علیه

وسلم دوروسته ځنی راغلی او پوښتنه ئی وکړه چه دین څه شی دی رسول صلی اله علیه وسلم مخ وروا ړ ولواووی ویلی نه پوهیږی دین دادی چه په غضب او قهر نه شی په قران پاك کښی راغلی

(والکاظمین الغیظ والعافین عن الناس) دخلکو نه غضب علاج لکه دنورو امر اضو په شان ئی داسبا بو په دفع کولو اومحوه کولو راځی نو ځکه دادی چه مونږ لاندی ډول دمخکینیو لسو اسبابو په قلع او قمع کښی په واضح ډول بیان ته ادامه ور کوو.

(۱) که غضب دخپل ځان دلیدلو ځنی وی یعنی دا چه سړی یته خپل ځان مجمع دفضائلو ښکاره شی او دنور چا او صاف او معا مدنی هیڅ په نظر ور نه شی نو علا مه به ئی داوی چه دارنګ خلك په خپل ځان په ماحول کښی مستغرق وی اوچه لږځوك دده رضا ځنی تخلف وکړی په قهر او غضب کیږی به ددا قسم روحی مرض دپاره پوهانو په دا ډول علاج ښو دلی دی دارنګه خلك دی لطفاً ځغرده خپلو معا ئبو او نوا قصو ته ځیر شی او لږ داپه فکر کښی راولی چی هیڅوك دنواقصو ځنی خالی نه دی او انسان دنقصان ځنی مخلص نه لری او همیش دی دا په فکر کښی راولی چه حکیم حقیقی یوزره دموجو داتو ځنی بی دکومی فائدی نه دی پیدا کړی او دا هر موجود چه مونږ ئی گورود حکمت له امله پیدا شوی نو په داوخت کښی په سړی ته دا

په فکر کښې ورځې چه په هر موجود کښې یو کمال او حکمت شته دی چه په نورو کښې به شاید نه وی او یا به په نورونه پوره کیږی . هود عالم په نظام کښې هر موجود د موجوداتو دخل لری .

(۲) که غضب او قهر دفخر کولو ځنې پیدا شوی وی یعنی دا چې سړی په خپل ځان باندی فخر کوی او ددی فخر سره چه څوك مصادم وګنې نود غضب مواد ئی په جوش راشی په داسی وخت باید دارنګه فکر وکړی شی چه ددنیا فخر کول خو یاد مال اویا دجمال او یاد نسب او دجاه له امله وی او په داسی شیا نو باندی فخر کول دعاقل اوپوه سړی کار ندی ځکه چه مال ئې شته او سبا نشته او هر څوك ئی لری جمال اوښایست خوهم باقی اودایم ندی ملکه دمزاج په بدلیدو او دمرض په عارض سره دیر ښایسته رنګرنه تور کودی ګر ځی نسب هم دفخر کولو لایق ندی ځکه.

هغه ناوی چه په ځان ښایسته نوی

څه په کار لری ښایست دمور او پلار

او که یو څوك داسی جنا ب ته چه په پلاراونیکه نازیږی ووائی: آشنا دا صفت خو دستا صفت ند ی دا خودی دپلار اونیکه صفت دی نه پوهیږم دی به په جواب کښې څه ووائی او که فرضاً پلار او نیکه ئی حاضر شی او ووائی چه دا ځما صفت دی ستاصفت ندی نو څوی په

څه وکړی ؟ او کیږی چی دده دپلار او نیکه هـ څولی دده دپلار او نیکه
ځینی هم په ښه او صافو کښی زیات وی نو عاقل او پوه ســـــړی نه
هیڅ دانه ښایی چه د بل چا په صفتونا زیږی بلکه که څوك واقعاً دفخر
دعوه لری نو خپل ځان دی ښه کړی ځکه خپل لږ صفت د پلار او نیکـــه
ددیر صفت نه زیات قیمت لری یـوعر بی شاعر وایی :

انافتخرت باباء معنوا سلفا + قلناصدقت ولکن بسمـــــا ولد وا +

که ته په هغه پلرونو چه مخکی تیرشوی فخر کوی نو مو نږ وایو چه رښتیـــا
دستا پلرونه ښه خلك و لکن نا اهله یی ځیږ ولی دی حضرت رسول صلی
الله علیه وسلم فرما یـــــــــی **(لاتأتونی بانسابکم واءتونی باعمالکم)**
ماته په انسابو خپلومه راځی بلکه په اعمالو خپلو سره رایشی یعنی زمـا
په نزد د انسا بو قیمت نشته بلکـه داعمالو قیمت دی ـ حضرت علی کرم الله
وجهه په یو قطعه شعر سره فرمایی .

انا ابن نفسی وکنیتی ادبی + مـن عجم کنت او من العرب +

ان الفتی من یقول هـــا انا ذ × لیس الفتی من یقول کان ابی ×

وایی زه څوی د خپل ځان یـــم اوکنیه زما ادب دی فرق نه کوی که د
عربو څخه یم او که عجمو او دا ځکـه چه سړی هغه دی چه ووایی زه داسی
او داسی یم . هو هغه سړی کا مـــل ندی چه وایی پلار می داسی او داسی
حکا یت دی چه د یو نان کوم یور ئیس په یو غلام با ندی فخر کولو غلام ورته

وویلی چه که دا فخر دی ددی ښوکالیو دانحستلو له امله وی نو دا صفت خود کا لیو دی دستا نه دی . او که په داد سور لی چالاکو شیا نو با ندی فخر کوی دا صفت خو هم دستانشو او که په خپلو پلرو با ندی ناز یږی نو د صفت ور خو دی پلرونه شول نه ته یعنی ته په خپله کوم صفت نلری او په تاکی دا ټول صفتونه دبل چا دی او که پلرو نه دی خپل صفتو نه در نه واخلی په تا کی بله څه پا تی شی ؟

داود هغه چاعلاج چه دفخر کولو په مرض مبتلا وی . او که سره ددی دکوم سړی په خپل ځان با ندی د فخر کولو عا دت ځنی زړه نه صبر یږی نو دا دی هم واوری (کس نه گو یدکه دوغ من ترش است) هو. مشك آن است که خود ببوید +نه آنکه عطار گو ید +

۳) په خبرو کی تیز ی لرل یعنی دا چه سړی په خبرو کښی د مقا بل او مخا طب د حقو قو مرا عات نه ساتی او چه د مخا طب له خوا نه په نه منلو سره مخا مخ شی نود قهر او غضب تیل یی اور اخلی .

٤) په خبرو کښی تینگیدل یعنی دا چه سړی په هره خبر کښی دلانسلم په غو نډی نا ست وی او لکه د ژړی غو ندی به حق او نا حق نښتی وی او چه څوك یی ښه استقبال ونکړی نو یووار په عصبا نیت پیلو کړی ددی دواړو اسبا بوعلاج دادی چه سړی دی با ید په دا پوه شی چه دا دول صفت او عادت د محبت او الفت سلسله قطع کوی اود وحدت او اتفاق

انحلال راولی دا دواړه خصلته د انتظام دعالم دپاره مضر دی او زیات مفاسد لری. سړی دهر چاپه انظارو کـــی مستبد او سر زوری معرفی کـــوی او هیڅ کله به په خپل مطلب نه بریالی کیږی سړی باید فکر وکړی چـــی خبری او جنګ سره فرق لری او پـــه خبرو کی مطابقت د مقتضی د حـــال سره ضروری ده خبره د پوهانو پـــه نزد زیات قیمت لری . هو خبره دا نده چی هر څه به سړی وایی خواه ومنل شوه اوکه نه هوهرڅه ځان ته لیاره لری. اوهر څه دپاره صورت په کـــاردی دا بده نده چی سړی په خبرو کـــی کله بل ته ځان تسلیم کړی بلکه دا بده ده چی د خبرو ځنی خوا شنی پیدا کـــی او بد تاثیر وکړی .

٥) تو قی کول یعنی دا چی ســـړی په توقو او تقالو کی دحد ځنـــــی تجاوز وکړی او د ادب مراعـــات اوروا اوناروا لحاظ ونه ساتـــــی دا قسم تو قی بدی دی هو تو قـــــی چی په کی نا روا او تجاوز د انـــدازی ځنی نوی بدی ندی . لکن داســـــی تو قی چی سړی به په هیڅ شی بنـــد او واز نوی بد عواقب لری دیر کرته داسی پیښه شوی چی اول تو قه وی بیا پتاقه شی او یو تر بله ســـره لاسو نه واچوی او دښمنی تری جوړی کـــی زه په دا کی زیات تجربه لـــرم او دیر داسی وقایع می لیدلی چـــی دبیڅا یه تو قو په اثر د مرګ او خون خوڼی صحنه جوړه شوی ده او لا ترننه پوری یی روغه نده موندلی . پښه دا نو ولی او په څه . نو باید دالازمه

ده چی سړی څه د خو لی ځنی کـاړی دعقل او فکر په سندان یی دا ســـی وتکوی چی غل او غش هیڅ په کـی پا تی نه شی هو زړه ته هر څه راځی او په فکر هر څه تیر یږی لکن هر څه دویلو نه وی او نه هر څه د خو ښـی وړ کړ ځی . تړ قه خو سړی ددی دپارهٔ کوی چی خپله او بل پری خو ښ شی نه دا چی دی او بل پری خفه او ملول شی که د سړی په ټوقو لی غر ض دا وی چی خپله خو له وینجه کړی . نو دټو قو دپاره حا جت نشته زما ورتـه اجازه ده چی همیش دی خو له وینجه ونیسی او که ټوقو کی مقصد دا وی چی دبل او ځان خسته توب او خفګا ن پری لری کړی نو با ید د بل د حقوقو مرا عات او لحاظ په خاطر کی ولـړی داسی څه د عقل او فکر په قوت اولطافت سره ووایی چی د درد دواء او خسـته توب یی په خو ښی بدل شی . ټو قی او مسخری فرق لری . لکن ځینی خلك دټو قو په دعواء ټو قو ځنی مسخـری جوړوی او په مجلس کی ځینی خلك دمجلس د اشتراك ځینی پښیما نه کړی اودیته یی اماده کړی که د طا قـــت او حو صلی ځنی پوره شی نو بالمثل جواب ووایی او یا لږ ایی تر ینه جوړه کړی اود خوند په شخوند بدل کاندی اویو د ماتم اجتماع تر ینه پیدا شـی.

٦) تکبر یعنی دا چی سړی په خوله ددی دعواء کوی چی زه د بل ځنـــی زیات یم که څه هم په زړه کی ددی معتقد وی او که نه په ما بین د تکبر او ځان لید لو کی (عجب) چی په اوله ماده کی تیر شو فرق دادی چی په عجب

کی سړی په دی عقیدی وی چی زه د بل ځنی زیات یم او په تکبر کی دعواوی که څه هم په زړه کی ددی عقیده ونه لری چی د بل ځنی زیات یم د تکبر دعواء مدعیان هرڅه غواړی چی ددوی په خو ښه وشی نو چی یی طبعیت مراعات یی ونه شی بیا نو په غضب او قهر لاس پوری کړی . اولا ځان هم ملامت نه حسابوی او بل که څه هم معصوم وی ملامت کړی . اودی ته فکر نکوی چی شیطان کبر وکړو چی په لعنت شو . هو کبر د الله جل جلاله او د غنی ذات صفت دی او بنده چی سراسر محتاج او حیران او فقیر لاس په دوعا او تمنا دی ورته نه ښایی چی تکبر وکړی او ځان د بل وروړ او عزیز ځنی لوړ وګڼی اود شیطان په صفت موصوف شی په حد یث قد سی کی راغلی

(الکبر یاء ردایی والعظمة ازاری فمن نازعنی فیهما اد خلته ناری)

الله پاك فرمایی کبر یعنی غنا او بی پروایی زما څادر دی او عظمت زما پر توګ یعنی تا ثیر لاندی دی څوك چی زما سره دا دواړه صفتو کی مقابله وکړی خپل اورته به یی دا خل کړم. توبه نعوذبالله پاك دی سړی ته ددی دواړو صفتو ځنی نجات ور کړی په حد یث شر یف کی راغلی چی متکبر خلك به په ورځ د قیامت کی په صورت دوړو او ضعیفو میږو تنو جمع کیږی .

۷) استهزا او په بل خندل یعنی دا چی سړی یته د بل عزت په ذلیله

ستر که ښکاره شی او په مجلس کـی دهغه په حضور او یا باالغیاب مسخری ور پوری کوی دا صفت اکثره د هغـه خلکو وظیفه ده چی خلك پری خند وی او دا کار یو نوعه کمال خپل کنهـی او همیش په دا وسیله سره غـــواړی چی د خلـــکو تو جـــه ځا نته جلب کړی چی دمقتدرو اود بدایانو الطاف او پیر ځو ینه پری وشی دا رنګـــه رذیل خوی یوی خوا دبل خفګان موجب کرځی او له بلی خوا که مقا بـــل ورته جواب ور کړی دده د غضب اوقهر عا مل کر ځی دا رنګ خلك با ید فکروکړی چی داسی اخلاق دانسان صفـت او کمال نه کرځی سړی با ید چی پـه کمال او علم او فضل سره د خلکـــو په زړه کی ځان ځای کړی نه پهمسخرواو استهزاء سره او په علم اوفضل اوکمال او کار سره خپل رزق اوروزی حا صله کړی نه په داقبیح صفـت سره په حد یث شر یف کی راغلـــی چی په ورځ د قیا مت کی به استهـزا کو نکی در وازی د جنت ته وغو ښتل شی کله چی دوی هلته ور منډی کړی در وازی به پری وتړل شی بیا به د بلی دروازی له خوا ځنی وغو ښتـــل شی بیا چی هلته ور منډی کړی هغه به هم پری وتړل شی په همدا قسم سره به په دوی په صورت د استهزاءعذاب ناز لیږی .

۸) غدر او خیا نت یعنی دا چـــی سړی دخلکو سره دغدر او چـــل او چانس ژوندکوی اوپه عهد او وعدی ولاړ نه وی غدر او خیا نت که په هر څه کی وی مذموم او قبیح صفت دی اوپه نزد دهیڅ عاقل ښه نه ښکاری

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم غدر او خیا نت د منا فیقینو د او صا فو څخه کښلی فرمایی چې په ورځ د قیامت کې به غدر کونکو دپاره یو مخصوص بیرغ وی چې ددی موقف خلك به ددی بیرغ په اثر خا ئن او غادر پیژ نی .

۹) ظلم کول د انتقام په صورت .انتقام په دری قسمه دی یو هغه دی چې څوك د چا څوك مړ کړی او ورثه دهغه دی په مقا بل د جنا یت کې مړ کړی دی قسم ته قصا ص وایی ، دوهـــم انتقام هغه دی چې یو سړی کو مه بی ادبی وکړی او هغه بل سړی د بی ادبی په اثر دی مړ کړی دیته ظلم کـول د انتقام په صورت کې وایی دا رنـــگ وضعیت چې سړی د حد څخه تـجا وز وکړی بد دی . د غضب آو قهر سبب گرځی سړی باید اول دخلکو دگنـاـ هو نو څخه عفوه وکړی او په داوسیله دلو یو اشخا صو په حساب کې ځـا ن واولی حضرت رسول صلی الله علیـه وسلم فرمایی

(احسن الی من اساء)

نیکی کوی د هغو اشخا صو سره چـې د ستا سو سره بد ی کـــــوی .

بدی را بدی سهل باشد جزاء + اگر مردی احسن الی من اساء +

په انتقام کی با ید سړی ډیر دقت وکړی نه چې کوم بی گناه ســړی دل نشی اوکه بیا ور ته ښه معلو مـــه شوه هلته با لمثل انتقام جائز لکن عفوه اولی ده په عفوه سره دښمـــن دوست گر څی او که مقا بل عا قـل

وی د عفوی وضعیت ور ته د انتقـام نه سخت تما میږی . لکه چی یو ما قل سړی ویلی

(رحم الاعداء اشد من جفوةالا احباء) رحم او عفوه دد ښمنا نـــــــو ته سخته تما میږی د جفاء د دوستانو ځنی .

۱۰)رغبت په طلب دنفا ئیسومالو نه کی دا چی د سړی محبو ب او مطلو ب همیش همدا وی چی کوم ښه شـــی او نادر مال چی چیر ته وی ځما دی وی او که لری یی نو محبت د هغه یـی دزړه ځنی چار پیروی دا قسم صفت دم بد دی ځکه که چیری داسی خلکو ته مطلوب لاس ته نه ورځی او یا یی لـه لاسه ځنی ځی نو په غضب او قهـــر وی او چتی په چتی به خفه وی پـه صورت د وجود کی به د سا تنی پـه غم وی او په نه والی که به د طلـب او کشش په درد مبتلا وی نو ځکـه سړی با ید چه په هیڅ شی با نـدی زړه ونه تړی او نه هیڅ شی سوا د دین او ایمان او انسا نیت او خد مت عا مه ځنی د زړه د تړ لوړ وګنـی حکایت دی چی کوم پاچا ته چا کومه بلوری قبه چی ډیر زیا ته صفا وه او مهند سا نو په کـــی دفـــــن د اصو لو سره سم تـــول کمال ظا هر کړی وو دتجفی په قسم را وړه دا قبه دپا چا ډیره خو ښه شـــو ه او زړه یی پری ور کړه همیش به یی ددی په لید لو خو ښی کو لـــــه او په خپلو مخصو صه خزا نه کی یی سا تلی وه تقد یر دا وکړه چی قبـه تلف شوه او دعدم په میدان کـــی

محوه پاچا ددی واقعی دپیښیدو څنی سخت په غم شو او همیشې په فکر
او سودا مبتلا شو که څه هـــــم ارا کینو ددولت به ښه نفیس جواهر
او لعلونه دده په حضور کی را وړل لکن دده به پری تسلی نه را تله
او دقیقی په یاد او غم کی اخـــــر مجنو ن او لیو نی شو اودمملکـــت
انتظا م او هستی او مو جود یـــت یی له لاسه لاړو داو دزړه ور کولو
حال او په نفیسو شیا نو با نـــد ی زړه با یللل چی نتیجه او اخردا شو
نو سړی باید چی په هر کار کـــی دا عتدال څنی کار وا خلی او پـــه
معتد له لیار روا ن شی هر چا که دا عتدال په لبا س څا ن ملبـــس
کړو او دا عتدال څنی یی کارواخیست او صبر او حو صله او استقا مت یی
دلاس څنی ور نکړه نو دغضـــب دمسمو ز هر څنی به نجـــا ت
مو نده کړی دا چی څنی خلك وا یی چی شد ت او غضب در جو لیـــت
او انسا نیت بنسټ دی. دا هلتـــه چی کوم شر عی او افتخاری سعا دت
که شدت او غضب و نکړی محـــو ه کیږی او بی دغضب او شدت څنـــی
په بلی لیاره دمقصد حصـــــو ل متصور نوی نو هلته حق دادی که
په غضب سره کار کیدلو ښـــه دی خپله حضرت رسول صلی الله علیه
وسلم حلم او تحمل او حو صلی په صفت موصوف و په مقابل دشدائد و
کـــی بـــه یی حوصله او استقا مت کولو ترڅو دکفارو له خوا په جنگ
سره مجبور شوی ندی جنگ یی ندی خو بښ کړی فر ما نیل په یی چـــی

شجاع کړ ین دښجا عا لو هغه شخص دی چی په حالد غضب کی دخپل
نفس ما لك وی رسول صلی الله علیه وسلم دیوی غزا څنی وګرځیده
صحابه ورض الله تعالی عنهم ته یی و فر ما یل :

(رجعنامن جهاد الاصغرا لی جهادالاکبر)

وایی مونږ وګرځیدلو دوړو کی غزا څنی یعنی دکفار ودمقا بلی نه لو یی
غزا ته هغه دنفس سره غزا او مقابله ده.

دنفس غزا ته حضرت څکه لو یه غزا ویلی چی نفس کله اصلاح
شی نو هر څه اصلاح کیدو نکی دی همدا وجه ده چی رسول
صلی اله علیه وسلم فرما یی **(اعدا عدو وك نفسك اتی بین جنبیك)**
دښمن تر ین ددښمنا نو دسړی نفس دی چی په ما بین ددوا ړوډو د
دانسان کی ځای لری.

څنی کم عقله خلك په عاجز وحیوا ناتو او مر غا نو هم قار یز ی
او بلکه په بی رو حه اشیا با ندی هم ډیر لیدل شوی چی په غضب
راځی لکه مثلاً چی پښه یی په لو ته او دبره با ندی ولږ یږی نو په لو ته
او دبره با ندی په قار یږی داقسم خلکو ته به سړی څه وایی دا رنګه
اشخا ص اکثره په ځوروړو کی پیداکیږی او په بی عقله او بی مغزه
خلکو کی زیات لیدل شوی . هو .

مه نورمی فشاندو سګ پانك میزند+سګ را به پرس خشم تو باماهتاب چیست+

په ښکـــو او زړو او وړو اومر یضانو کی همدا رنګ او صا ف
موندلی شی چی بی مو جبـــه په قاریږی لکن هغی قا بل المراعات
دی حر یص او بخیل ځنی هم چـــی څه ضا یع او مصر ف شی چتی پتی
قهر او غضب وز ځی. لکن خـــدا ی دی ورته هدایت ور کړی. خلـص
عوا قب دغضب او قهر دادی چـــی دبدن او وجود دپاره زهر قا تـــل
دانسا نیت او سړ یتو ب مضر اوصدا قت او اعتما دله یوی خـــوا
پورته کوی او له بلی خوا دندا مت اوپښیما نی مو جب کر ځی. پوه خلك
اغما ض اکرام او عفوه دځان ســر ه لاز مه او ملز مه کړځوی په تاریخ
کی چی سړی دنوا بغو خلکو پـــه سوا نحو ستر گی اچوی نو هلتـــه
په کی ضرور سړی د هغـــــوی حلم او حو صله او صبر او استقامت
په پوره پیما نی سره مو نده کوی. هو وایی لو م مجرم سړی داسکندر
په حضور واوړی شوا سکندر په مقابل دده دجرم کی دعفوی ځنی کـــار
واخیستلو. هو شاید دابه دا ســی گناه او جر م وه چی دشخصیـــت
دا سکندر پوری په یی تعلق درلوداو یا به په عفوی سره دبل چـــا
حقو ق نه تلفیدل مقصد دا چـــی اسکندر عفوه وکړه په دا مجلس کی
در بار دیو معز یز ینو ور ته وویلی چی که ته زه وی نو به می مړ کړی وء
اسکندر ور ته په ځواب کی وویلی چی ته زه نه یم نو ځکه یـــی
عفو کو م او نه یی مړ کوم.

PROPERTY OF ACKU

دزړه سوړوالی

انسان ته دژوند انه په مد اوجزر کی رنکا رنګ پیښ په مخ ور ځی په دا پیښو کی سړی اوتودی په یو قسم او بل قسم محرومیتو نه هم شته دفکر خرا بی داند امو نو درد حیا تی مشکلات خلاف الغ ر ض او تو قع شیان داتو ل چی سر ه ځای شی نو په ځینوانسا نا نو باندی دزړه دسوړوا لی مرض کاری کوی اوداهم دزړه دسوړوا لی دمر ض په متعلق کی دحکماو لخوا تشخیص شوی کله چی ضعفد بدن دکو می مو جبی له املە پیښ شی او برودت دبدن په قواو با ند ی استیلا پیدا کړی نو داوخت هم دزړه سوړ والی پیدا کوی ددی مرض دعلاج دپاره دروحی او نفسی امراضو اطباو دارنګ دوا تعین او تشخیص کړی وایی که دزړه دسوړ والی مر ض ددینوی اوحیا تی مشکلات له املە وی نودعقل اومغز خلك دی یو وار ددنیا په تار یخ او دروز کار په کرد ش کو مچی په کی انسا نان په مختلفو اقسامو ژو ند

کوی نظر وا چوی هو داو خت بـــه ټوورته معلو مه شئی چی په دلیاکی
رنکار نک تیت او جک خلك دوا ړه لیدل کیږی. څو ك دجواری اوور بشو
ددودی په ارمان دی او پیو نـــد ی جا می‌هم ور ته نر سیږی او څو ك
په ټولو (پلو) او په ور پښمینـــوجامو هم کښر لری. وروسته ددا سی
معلومات ټولی بهه سړی دمعقـو ل فکر خا وند دی چی دزړه داطمینا ن
دپاره واړه او تیت خلك دنظر لاندی نیسی او دکار او فعا لیت دپـــاره
دومره جد یت او سعیه کوی چـــی هیڅ کله خپل عز یز حیا ت په لهو
اوعبث نه تیر وی‌د ژوند اود حیا ت معنی په حر کت او تپش کی کور ی
او دسعا دت امید په کار اوعمـــــل وینی مقصد داچی پو هان دخپل زړه
دسوړ والی دپاره په خپل معقـو ل فکر سره علاج کوی او هیڅ کلـــه
دومره تاءثراومایو سه نه کیـــږ ی چی دهر څه ځنی لاس واخلی او بی
لاسه او پښو شی اوکه دزړه سـوړ والیَ دو جود دامرا ضو په اثر و ی
یعنی داچی کله دبدن په عمـــار ت ضعف طاری شی‌اود برودت تا ثیرات
دومره زیات شی چی اخر دســـړ ی ځنی دزړه واك او طاقت سلـــب‌اوه
سوړ والی په مرض مبتلا شـــی اوپه رنږورنو ګستر کو هر څه و ینـــی
لیکن هیڅ نه کوی دداسی مـــر ض‌دپاره دمقوی شیا نو خورا ك لازم‌دی
او دګرمو ماکو لاتو او ادو یه وخوراك ورته په کار دی وایی چی یو وخـــت
منصور بن نوح چی والی دخرا سان وه په درد دمفا صلو اخته شودوطن

اطباو که هر څو مره علاج کو لو لکن فا یده ار نتیجه یی هیڅ نه
ښښلـــه اخـــر دمملکـت‌پو ها نـو داسی مشوره وکړه چی محمد ذکر یا
(رازی) چی یو ښه پوه حکیم دی اوزیات په طب کی مهار ت لری ود ی
څو ښتل شی چی دپا چا علاج‌و کـړی همغه وچی‌دد ی‌مشهور نا بغـــه
حکیم پسی نفر ولیږل شوی او نفر یودا مشهور طبیب دځا نسره روا ن
کړلو کله چی دقلز م دریا ب دخنکه ورسیدلو نو حکیم صاحب دبحر ځنی
ویر یدلو او دکشتی دسپر ید لوځنی متنفرو او هیڅ یی دیته ځان نشـو
اچیو لی چی په کشتی کی دی‌سپورشی اخر ور سره نفر مجبور شول او ددی
پوه حکیم لاس او پښی یی وتړ لی‌او په کشتی کی واچو لو او دبحـر
اته یی تیر کړ کله چی دپا چـــا په حضور کـی ور سید لو نـو له داد
وخت لایق حکیم هر څو مره تـداوی وکړه او ښی مجر بی نسخی یـــی
دپا چا دعلاج دپاره مسبتعملی کـړ ی‌هیڅ فایده اوثمره یی ونه ښښلـــه
اخر محمد ذکر یا (را زی) منصوربن نوح ته وویلی چی که هر څو مـی
دستا دښدن دصحت دپاره ډیری ښی‌دوایی او عمیق فکرو نه او دطـــب
تجربی په‌کار واچو لی فایده یـــی ونکړه اوس نو یواری نفسانی اورو-
حا نی علاج پا تی دی که پـــر ی‌ښه شو لی لو ښه بوی او که نـه
سخته ما یو سی ده. ورو ستـــه ددی ځنی حکیم مخکی دځا ن سره یو
خط ولیکلو او ویا یی امرو کړو چی‌حمام دی زیا ت گرم شی اوپـــه

حمام کی دی نور هیڅو کڼه وی او بیرون دحمام نه دی یو شبه چا لاك
آس وترلی شی چی زه پاچا حمام تـه بیا یم دده دا مر په اثـر حمام شبـه
گرم شو او حکیم صا حب پا چـــا دخا ن سره حمام ته ہو تللـــــو
کله چی پا چا حما م ته دا خـــــل شو او دخا ن په پا ك والی بو خـت
شو داوخت حکیم صاحب یوه شبـه تیره چورکی ور پسی و شکلـه او
مخا مخ په پا چا ور غی هر شـــه یی چی په خولی ور تلو بداورد یـــی
پا چا ته وویلی او وی ویلی چـــی داتا ورته ویلی و چی زه دی په داسی
ناوړه وضعیت سره دستا حضور ته راوړی شم چی لاس او پښی یـــی
وا با ندی و ترلی او په ډیرحقیرانه وضعیت سره په کشتی کی وا چو لی
شوم اوس به نو زه دستا سره گرزم په والله که دی ژو ندی پر یږ دم
او چیر ته به را نه خلا صیږ ی. پا چاچی په داقسم سختی خبـــر ی
وا ور یدلی او په دا قسم وضعیت یی مشا هده کړو ډیر خفه شو او دمرگ
او ژوند صحنی سره یی ځان مخا مخ ولیدلو هو داوخت سخت وخت دی
دسړی دبدن تو لی قواوی په هیجان راځی نو ځکه دپا چا هـم د بـــدن
قواوی دحمام او دقهر دحرا رت په اثر سخت هیجا ن پیدا کړو اویـــو
ناڅا په دخپل ځای ځنی پا ځید لـو او سخت زیا ت دو یری قهر ور غی
داوخت نو حکیم صا حب ځغرده دحمام ځنی بیرو ن شو او خط یی یوسړیته
ور کړ او ور ته یی وویلی چی پـه موا فق ددی خط سره به پا چا دحمام

څنی څغړده را با سی او څه رنګـه چی می په خط کی لیکلی په هما غه
قسم سره به یی علاج کوی دا یـی وویلی او حکیم صا حب چا لا کـه
په اس سپور شو او په یو قدم سره یی آس دښار څنی وویستلـو اود
منصور دپا چا یی څنی وتښتیده کله چی پا چا دحمام څنی په هما غـه
اصو لو سره چی حکیم صا حـب لیکلی و خار ج کړل شو نو پا چـا
دوجع المفا صل دمر ض څنـی صحت پیدا کړو او په رو حی معالجه
سره یی تداوی وشوه ورو ستـه دصحت دکامل والی څنی که هرځـو
پا چا دا نا بغه حکیم ته جوا بو نـه ولیږل چی ته یو کر ته را شـه
حکیم صا حب هیڅ حا ضر نشو اوپه جواب کی ورته ولیکل که څه هـم
دستا دصحت په مصلحت به می کومی سختی خبری کړی وی لکن دپا چـا
دقهر څنی وروسته دداسی وضعیت پیښو دی نه داډه کیدل غلطه ده
څکه چی پا چا سره قوت او طا قت شته او مخه نیول یی گران کار دی
زه څه غواړم چی دستا سوحضورته در شم او داڅکه نه چی دستا پـه
خیال کی یو څل هغه زما له خوابداوردو گر څی او په کومم شکل باندی
می ککړ کړی. زما په عقیده چـی ربښتیا به حکیم صا حب دهمـد ی
واهمی له امله بیر ته نوی ورغلی او داڅکه چی داسی معلو میږی چـی
دحکیم صا حب وهمی قو ت زیـا ت و همدا وجه وه چی دکشتی دسوردلو
څنی لکه چی مخکی وویل شو صـم ویر دولو و . اوس به را شو بیر ته

خپل اصلی مقصد ته چی دزړه دسور والی دمرض علاج دی دا مـــرض زیا ت بد عوا قب لری ځکه هرځـه دزړه په قوت او حرارت سره کیږی هو زړه رئیس داعضا ودی نو کله چی سور شی سړی هیڅ نه شی کولی او دغفلت دوران دبدن په هرعضوه با ند طاری کیږی.

غفلت

که د ی دیر عمر پـــــــه کا ر و ی غفلت مه کـــــــره +
په ویده باندی سل کا لـــــــه یو ز مان د ی (ر حمن بـــا بـــا)
ربښتیا خبره داده چی غفلت د هغـه او صا فو ځنی دی چی په انسان
دډه یرو سختو مشکلاتو اوپریشانیو سره مخا مخ کوی پوه او کمـــا ل
کار او عمل شهر ت او اعتبار ددنیـــا او اخرت سعا دت او اجتما عی او
اخلاقی او ادبی او سیا سی نهضـت دی تو لو تر قیا تو او افتخا را تـــو
ځنی سړی یو قلم محرو موی هـــو؛ کوم هغه اشخا ص چی دهر څـــه
ځنی غا فله وی که څه هم سا اوروح په کی ښکته او پور ته کیږی لیکن
په واقع کی دمړو او یا لیو نو پـــه حساب دی ځکه چی ژوند دحر کـــت
نوم دی او ژو ندی به همیش لاس او پښی خو ځوی او په خپل صحیح
فکر او تعقل به دحیا تی مشکلا تـــو سره لاس په گر یوان او دخپلـــی
ډا معی او دوطن دگتی او فا یـــد ی دپاره په هغه لوی زمو نږ دیـــن او

شر یعت بشر ته دسعی او کاراوعمل درس او رغبت ور کوی او دغفلت او ځا نله په کنج اوصو معه کـــی کینا ستلو او دوخت تیرو لو ځنـــی تهی اومنع کوی الله جل جلاله فرمایی **(لیس للا نسان الا ماسعی)**

دانسان دسعا دت او تر قی او تعالی دپاره هیڅ کوم سبب بی دسعی او زحمت ګا للو ځنی نشته دی دد ی آیت کریمه په معنی کی چی سړی دقت او تعمق کوی نو ددی مطلقـی نفی ځنی چی په کلمه (لیـــس) سره راغلی دا معلو میږی چی انسان به هیڅ رنګه افتخا رات او نیـــك مرغی بی دسعی ځنی په غفلت سره لاس ته نشی راو ستلی او دحضـر ت انسان وظیفه هم داده چی دخپلـو مشکلا تو دحل دپاره او دحیـــا ت دصحنی دلو ړوالی او ښه توب له املـه به دژو ندانه یو دقیقـــه او ثا نیه بیکاره نه پر یږ دی هـــو دژو ندانه هر دقیقه او ثا نیـــه دآلما سو ځنی زیا ت قیمت لـری او دژو ندانه هره ګړی داجتمـا عـــی خد مت دپاره مسا عد ه ده اوپه کی کیدلی شی چی سړی خپل قلبـــی روا بط دحق پر ستی سره محکـــم کړی او نا جایزه اقتضاآ تو سـره په کی مجا دله وکړی سړی با یـد خپل قیمتی وخت په لهو او عبـث تیر نه کړی ځکه دژو ند هره لحظه چی تیره شوه نو لاړه بیر ته نـــه معا دیږی.

همدا وجه ده چی پو هـان خپـل قیمتی وقت ته زیا ت اهمیت ور کوی

او په هیڅ ډول غفلت روا نه ګڼي ځکه هغه جوړ مخ چې مخ په ترقي
روا نې دی دوی دژو ندا نه پـــه معنی او حقیقت پوه شوی او دغفلت
سره سخته مجا دله کوی او دتنزل اسباب او مبا دی او دغفلت علل او
منا شی پیژ نی او پو هان یـــی دتنزل دمرض دتعیین او تشخیص
دپاره کار کو ی او ددی مهلك مرض دقلع او قمع دپاره مخ په وړا ندی
زی هو نن ددینا پو هان په غافلو اشخاصو کی دکار اوعمل روح پـو
کوی او استعدادونو په تر بیـــه او علم او پو هی سره ظهور اوبروز
راولی دغفلت دمجا دلی په لړکی داسلام دتار یخ زر ینی پا نی سره ته دکار
او عمل دوا پیا دوی او په کـــی دتر قی او تعا لی دپاره غټ علت
دغفلت سره مجا دله وینی هـــو مسلما نانو به ایثار او قر با نـــی
دغفلت او جهل په مقا بل کی کو لی او په ژو ندانه کی ددوی عا لـــی
مقصد همداوی چې خلك دحقیقـــت په رڼا منور کړی اوس به را یشو
دیته چې غفلت څنګه پیدا کیږ ی ددی داځواب دی چې دا مرض دعیاشی
او ځان ځانی او دخدای پاك دهیرولو او په خپل ځان غره کیدلو ځنـــی
پیدا کیږی ځکه کوم هغه اشخا ص چې له اندازی زیا ت عیاش شـــی
لو ټول فکر یې په خوړ لو او اغـــوستلو او خو ب کو لو اودخپـــل
استراحت په شاو خواکی مصـروف وی او ددی غم نکوی چې خـو ړ لو
او څکل او اغو ستل او خـــوب او استرا حت چې دوام او بقی پیدا کوی

هلته چې په وطن کې څه وي اوڅه پيدا شي او په قوم او وطن اوجامعه
اکې قوت او طاقت دسا تنې موجودشي اوپه محيط کې يوتر بله دنورو
حيات او ژوند دځان دحيا ت اوژوند دپاره علت او سبب وګڼي او که
يا لعکس په يوه جا معه کې خلک ټول په ځان مين او غره وي او هر
چاته خپل عقل او فکر او کار اوعمل او زور او قو ت او طا قت
دهر چا ځنې ښه قوی او محکم ښکاره کيږي اونور مخلو ق ور ته
حيوان او ځاروی معلو م شي نو دلته داسړی دغفلت په يو طو فا نی بحر کې
ډنو ځي او دهلا کت سره مخا مخ د ی او که سړی سره دټو لواصلاحاتو
دخدای پاک ځنې غا فله شي نو معلو ميږي چې دا شخص په واقع کې
ښه سخت غا فل او ويده دی.هوخپل ځان تری هير دی خپل خا لق نه
پيژ نی حقيقت دادی چې پوه سړی بايد ددی رنګ خلکو په جل او بل
تير نه وځي پو هان د خپلو تجر بو او دتار يخی حقو معلو ماتو
په اثر په پوره يقين او تيقن دداسی خلکو جل او بل چې دخدای پاک
دعبادت ځنې غا فل دی دهلاک اوخسران سره مخا مخ وينې دغفلت
سره به اساسی مجادله په څه شانې وشي ددی پو ښتنې ځواب
زما په عقيده دادی چې دغفلت سره اساسی مجا دله په محکم عز م
او پوره ميرا نی او په اخلا قی رنګ او درو حياتو په پيژ ند نه
او دجا معوی امرا ضو په تشخيص او دپو هانو په مر سته او کا مل

ثبا ت داتول چې دخدای پاك دارادې سره یو ځای شې هلته نو سړی کولی شی چې په جا معه کی دحقیقی ژوند روح پو کړی او دغفلت سره اساسی مجا دله و کـــړی.



د حیران والی علاج

کله چی سړی په حیا تی مشکلا تو اخته کیږی او دژوندانه دپیچلـو حقا یفو سره مخ په مخ کیږ شی نو داوخت په انسان باندی یو قسم حالت طاری کیږی چی هغه ته حیرت وا یی لکـه مثلاً یو سړی پـه اقتصـادی مشکلا تو اخته وی او دژو ندا نه هلی اوزلی یی دانشی کو لی چـی دخپل کور ضروری شیا ن پوره کړی داوخت نو داسړی چورت و هی چـی څه و کړی اه ربښتیا په داسی ابتـروخت کی سړی تر هـوره شی اوځـنه ځای نه ور کوی او اسبا ب د کارورنه مهیا نه وی. هو حقیقت دادی چـی دیر خلك کله چی دژو ندا نـــه په مشکلا تو اخته شوی دی نو ددوی افکار دحیر ت په طو فا نی بحر کی دنجا ت وسا یل نه مو نده کـو ی همدا وجه ده چی داسی افکار دسړی په روح با ندی فشار راولـی او دژو ندانه کړی پری ترخی تیر یږی او خو ف ددی په کی شته چی سړی سخت دمر ض او جنو ن سره مخا مخ شی دد ی مرض دعلاج دپاره پو هان داسی مر ما یی (په چا کی چـــی دحیر ت دمر ض مبادی پیدا شـی

هلته نو داپه کار ده‌چی یو ځلـــی حقیقت ته متو جه او په‌دا عقید ی شی چی صر ف په فکر کو لو شـه نه کیږی تر څو دفکر سره کاراوعمل ملګری ونه کړی .)هو کله چـــی سړی ته دکار داقدام دلا یـــــا. متعا رض ښکاره شول نو فکر د ی‌وکړی چی ارجح یی کوم طرف ته‌دی چی په هما غه خوا لاړ شی. کله‌چی یی په منطقی دلایلو حپله او یـــاد یو پوه دوست په مشوره لیـار ی‌دنجا ت پیدا کړه نو په هما غـــه طر ف‌ته دی دکار او عمل مخه کړی‌او په یو طر ف دی‌پوره زورواچوی او په تقد یری پیښو دی هیـــخ‌چورت هم نه خرا بوی او دځـــا ن سره دی دوایی چی زما وظیفه خـو کار او عمل دی او د اخو دادی چـی دخپلی وسعی سره سم یی کـــو م.البته چی مثبته نتیجه نه ور کوی په داکی به دپاك خدای حکمت وی‌زه به خپله وظیفه او کار او عمل ته دوام ور کوم او په تقد یری پیښو به دو مره فکر نه خرا بوم چـــی اخره‌دبدن ا ودوجود عمارت مـــــی‌خراب او دمر گ او جنو ن ســـر • مخا مخ شم او دا ځکه چی پـــا ك‌رازق او روزی ور کو نکی او مشکل خلاصو نکی دی مقدر اجل په خپلی نیټی سره هرو مرو رسیږی چی‌ورنه دخلاصی مخلص نشته .هو بایدسړی په داسی وخت کی دځان سره ووایی چی زه باید په خپل لاس ځـــا ن‌دحیرت په زهرو مسموم نه کـړم. او خپل کار او عمل او جد یت او فعـا لیت ته به دوام ور کوم.

زه بایدځ وکړم ؟

له کوم سړی څخه لیاره دکـــار خطا شوی وه په یو سخت مشکـــل
ها ندی لتار او حیران ووچی څـــه وکړی. آخر یو پوه سړي ته یـــی
مراجعه وکړه غو ښتنه یی چی دهغه په مشوری او استشاری سره دخپل
تګ لیاره معلو مه کړی نو یـــی ور ته وویلی چی په ما با نـــد ی
داسی او داسی سخته را غلی هـــر څو مره چی فکر وهم هیڅ نه شـــم
معلو مولی چی څه باید وکړم غواړم چی ته را ته په خپل معقو ل فکـــر
سره دامعلو مه کړی چی زه با یدځه وکړم او دا ځکه چی زه پوهیږ م
چی ته پو هیږی تا سره تجر بـــه شته او عقل او منطق لری ته که څه
هم شاړ پاړ ښکاری او دعصـــر او زما نی په مود برابر نه یـــی
بیا هم زه تا پیژنم چی ته څـــو ك یی او تا سره څو مره دکار او عقل
استعداد شته نو ځکه بیا هم عـــر ض کوم او په دیر احترام سره دستاسو
دعالی فکر څنی غوا ړم چی زه با یدځه وکړم. داپوه فیلسو ف وروسته

ددی ځنی چی پوره یو ساعت فکر وهی او لاس په تندی مښی او کله
نا کله ځمکه کره وی او په غاښونو سره خپله گو ته چیچی مقصدداچی
ورو سته دیو پوره وخت ځنی پـه دادول ځواب وایی گرانه دا ســی
مه وایه او،دا پوښتنه مه کوه چی زه پا ید څه وکړم او دا ځکـــــه
چی دا کار ته یوازی نه شی کو لی که څه هم ته په یوه ښه لیاره روان
شی لیکن چی نور در سره نـــوی او څو ك دی ملگری ونه کړی هیڅ
نه شی کو لی دپښتو متل دی(له یوه لاسه تك نه وځی)نو ښه داده چی
داسی پو ښتنه وکړی چی (زه با یدځه و کـړ م) اوته با یدځه وکړی،
او هغه بایـد څه و کړی . دا وخـت نو که مادر ته دا درو ښو دلی شوه
چی دادستا کار دی او دا زما، اوهغه دهغه، او عمل مو پری وکړو بیـــا
هر څه کیدلی شی او هر څـــــه اسانه دی په عالم اسباب کی نن خلکو
داسی کارو نه وکړل چی پـــرو نه هیچا دا منلی نه شوه. هو خلکـو
وکړل نه یوازی تا. اوما، او هغـه او داځکه چی قدر ت نظا م دعا لـــم
په اجتما ع سره جوړ کړی او پـه همدا اجتما ع سره به چلیږی کـوم
هغه جوا مع چی څو مره داجتمـا ع په اسرارو پو هیدلی نو هغو مر ه
دکار په شوا خون پو هیږی او دنن مشکلات به یی سبا اسانه وی اوه
سبا به یی بل سبا .نوای زما زړگیه ته په دامه خفه کیږه چی تاداو نـه
کړی شو او په داسو داکی یی چـی دنا کامی علت می دادی چی زه د کولو

کیاره نه پیژ لم نه ته دکولو لیاره پیژ نی او تا سره دکولو آرزو هم
شته لیکن دومره‌ده چی ته غواړی‌چی په یو سر با ندی هر څه وکړی نه
ته داسی کوه چی دپو هانو په مرسته کار ته اقدام وکړه او په پـــوره
اعتماد سره دکار باکفا یتو خلکـو ځنی کار واخله بیا به نو در تـــه
معلو مه شی چی کار کیږی اوکه نه ته به په خپله په دا پوه شـــی
چی هر څه کیدو نکی دی او هرڅه کیږی لیکن په دا قسم اوداجتما ع
په بر کت داو دزه باید څه و کـړم ځواب چی دمعقو ل او تجر به لرونکی
فکر ځنی یی بروز او ظهور کـړ ی. ددی پو ښتنی او ځوا ب‌ځنی داجتماع
ډوند پر مخ تګ دپاره دنړی په‌لاس ښه په زړه پوری مطا لب او لیار
ښو نی راځی حقیقت دادی چی سړ ی یوازی په یوازی څه کو لی نشـی
هر څه په اشترا ك المسا عی سره حا صلیږی پدی ځواب کی داعتما د
دعبارت که څه هم ضمناً ویل شوی لکن یوه ښه با معنی نکته ده دا چی
په ځواب کی یی داهم و یلی چـــی دکار با کفا یتو خلکو ځنی کارواخله
دا نصیحت که په سر وزرو ولیکل شی ارزی او که همیش په خپـــل
فکر کی ور ته ځای ور کړو حق‌لری یاره زه خو ددی پوښتنی او ځوا ب
داوریدلو ځنی دومره خو ښ‌شوی یم‌چی‌په اخر کی ددی نو میالی‌فیلسوف
دادعقل ځنی دکه جمله یو ځـــــل بیا مکرر وم (ښه داده چی دا ســی
پو ښتنه وکړی چی‌زه باید څه وکړم، او ته باید څه وکړی او هغه باید

څه وکړی؟ زه ټوله څه ته وایم ډومره وایم په رښتیا چې رښتیا یې
ویلی. هو که ته ووایی چې زه‌یم‌او ته ته نه به ته یې اونه به زه
او که ووایی چې ته زه یم اوزه‌ته، هم به ته یې او هم‌به زه او هرڅه
په خپل نږ وی.

د بسیط جهل علاج

یعنی دهغی نا پوهی علاج کـو م چی انسان په کی په خپل علم او پوهی هم معتقد نوی دا مرض دنا پوهی مرض دی چی په زړ کړی سره محوه کیږی او دتحصیل په دوایی عـلاج کیدلی شی دارنګ نا پوهی په ابتدا دعمر کی بده نده او هر سړی او ل نه پو هیږی او بیا وروسته دسعیه او کوشش په اثر عالم او پوه شی. هوکه سړی ابتدا پوه وی نو بـه مکتب او مدرسی اَو تعلیم او تعلـم ته څه حا جت پا تی شی نو معلو مه شوه چی هر سړی اول عا لم نـو ی لکن ورو سته دتحصیل ځنی په یـو څه پوه شی نو دنا پو هی مـر ض په ابتدا دعمر کی قبیح نه دی پـه زړه کړی سره یی علاج کید لی شی. او دپوها نو دپاره په کاردی چـی دنا پو هانو دپاره به همیش دعلـم صفت او جهل مذمت کوی او دجهـل داضرار ودپاره به امثال اوشوا هداو هغه ناکا ری پیښی چی دجهـل په اثر راځی خلکو ته بیا نـو ی. دادی چی په دی لاندی دول سره به

ژه هم یو څه دعلم او پوهی په صفت او دجهل په مذمت کی به دګرا لو
لو ستو نکو په حضور تقدیم کړم (انسان باید فکر وکړی او په حال
دا نسان او دنورو حیوا نا تو کی عمیق شی چی دا څه و جه
ده چه انسان د نورو حیوا نا توڅینی ممتازاوپه قباد (ولقدکر منا بنی آدم)
ملبس دی دا وخت په انسان ته داعقیده حا صله شی چه فضیلت
د انسان په نورو حیوا نا تو پا ندی په علم سره دی او په علم او پوهی
سره انسان دعزت اواکرام منز لت حا صل کړی دی له بلی خوا پا ید
انسان د جاهل او نا پوه حقیقت ته متو جه شی کوم چه هغه د علم په
صفت سره متجلی او ښا یسته نه وی نو دا وخت به دا ور ته وا ضح شی
چه جاهل په شمار دبی خولی حیواناتو کښی حسا ببړی او د حیوا نا تو په
شمار کښی دی .

همدا وجه ده چه جاهل او نا پوه کله چه د عقلاو او فضلاو او پوهانو
مجلس ته حا ضر ږی او هغوی په علمی مسا ئلو کښی بحث کوی او
اجتما عی او اخلاقی او سیا سی اوادبی او مذ هبی، تحقیقات او توضیحات کوی هلته جا هل په یوعالم سکوت مبتلا اوپه زړه کښی پی د غم
غوبل وی هو خبری په نشی کو لی او د ہل په خبرو په نه پوهیږی اود
پهالو اونا پوهانو مجلس په نوی چه د چتیا تو او نا پر پتو په وینا
کښی جاهل هم څه فعالیت ښکا ره کړی نو ځکه جاهل دپوهانو په

مجلس کښی زیات خفه او ملـول وی حقیقت دا دی چه دا رنگه نا پو هـان چه خپل قیمتی وخت یی عبث کړی وی او دمکتب او دمد رسی ځنی یـــی استفا ده نوی کړی او همیش په لهوه او لعب کښی یی خو ند اخستـی اوه حیات په مر موزه اسرارو نه وی خبـر نودحیوا ناتو ځنی هم متبـــر دی ځکه حیوا نات خپل طبعی او خلقـــی قوت او طا قت کوم چه هغه د بل په واك او اختیار کښی دی دبل پـــــه ارادی په کار اچوی په خلاف د نا پوه انسان ځنی نا پوه انسان خو خپل هغه استعداد چه دعلم او زده کړی دپاره آماده وو په کار وا نچولـو او ده دا ونه کړه چی په زیار او زحمت سـره د علم په صفت مو صوف او د جا معی دپاره د کار غړی شوی وی. نوځکـه نا پوه انسان د حیوان لایعقل ځنـی متبر دی بلکه نا پوه انسان دجماداتو نه هم بښکته دی ځکه جما دات لکـــه تیږه لو ته او دا سی نور غیر نا می او نه لو یدو نکی اجسام په خپـــــل طبعی استعداد سره د انسان پـــــه اختیار کښی دی او نا پوه انسان خو خپل اختیار د بل په اختیار ور کړی او خپل په خپله یی خپل مو جود یت لکه دجماد په شا نی گر ځو لی. همداوجه ده چه خدای پاك فر ما ئی :

(او لئك كا لا نعام بل هم اضـــــل) ار سطا طا لیس ویلی که کـــــوم لیدونکی (بینا) دیونا نینا لاس ونیسئ او دواړه په ځا کی و لو یږی نو پـه شقا وت او بد بختی کښی خو دواړه شریك شول لکن نا بینا ددی له املـه

چه عا جز وو او استعداد د لید لو ئی نه در لوده معذور او مرحوم شمیر لی شی او بینا ملا مت او مقصر دی هوده ته خدای پاك ستر کی ورکړی وی عقل یی در لوده نو حکه خپل عقل او لید لو ته مقصر او ملا مت دی یـــو عر بی شا عر وا یی .

ولم ار فی عیوب الناس عیبـــاً + کنقص القا درین علی التـــمام +

وائی زه نه وینم په عیبو د خلکـــو کښی دا سی عیب په شا نی لکه چـه نقص او عیب د قا درینو دی په تمام والی د کار با ندی هو په ربښتیا چـه په اتفاق د صا حبا نو د عقل او نقـل هیڅ کوم فضیلت بی د علم نـــــه حا صلیږی همدا وجه ده چه پاك الله خپل حبیب مصطفی صلی الله علیـه وسلم ته فر مایی . **(وقل رب زدنی علما)**

وائی ووا یه چی ای مربی زما په علم کښی می زیا توالی وکړی کلـه چه حضرت عا یشه رضی الله تعا لیعنها رسولصلیالله علیه وسلمڅنی پو ښتنه وکړه چه په څه شی ســـره فضیلت د خلکو په خلکو سره پیـدا کیږی حضرت صلی الله علیه وسلـم ور ته په ځواب کی وو یلی چه پـه عقل سره یو ورځی انحضرت صلیاله علیه وسلم علی کرم الله وجهه تـــه و فر ما یل.

(یا علی اذا تقرب الناس الی خا لقهم با نواع البر فتقرب بعقلك تسبقهـم با لدر جات و لز لفی)

د لر جمې حاصل ای علی کله چـــه دستا او د نورو خلکو مسابقه را غله
په زیات نز دی والی او تقرب ســره در بار د خالق جل جلا له ته او خلکو
هو ښتل چه ځان نز دی کړی پـــــه اقسا مو د نیکیو سره نو ته ځـــان
لز دی کړه په عقل سره نو پـــه دی مسابقه کی به ته په دوی باندی په
دیرو در چو او قرب سره په هغـــی با ندی مخکښی شی په یو حد پـــث
لشر یفۍ کښی را غلی :

(الناس اما عالم او متعلم و الباقی همج)

خلك په دوه قسمه دی یو قسم عالم دی او بل متعلم باقی نور خلك لکه
واړه واړه مچا نو په شا نی دی .

یو صحابی د انحضرت صلی الـــه علیه و سلم څخه سوال وکړو چـــې
کوم عمل بهتر دی رسول صلی الله علیه وسلم جواب کی ورته وو یلی
(علم) په دری کر ته صحابی همـــدا سوال وکړو او رسول صلی الله علیه
وسلم همدا ځواب وویلی اخرصحابی وویلی چه زه د عمل څخه سوال کوم
او تا سو په علم سره ځواب را کوی رسول صلی الله علیه وسلم ور تـــه
وویلی چه لږ عمل سره د علم څخه دا بهتر دی د دیر عمل څخه چه د جهل او
نا پو هی سره وی .

دمرکب جهل علاج

یعنی د هغی نا پوهی علاج کوم چه نا پوه په کښی په خپل نا پو هـی
با ندی د پو هی او علم یقین اوعقیده لری. او ددی دپاره چه لو ستو نکـی
دمر کب جهل په حقیقت پوه شی داشعر دی مطا لعه کړی .

هرکس که نداند وبداند که نداند او نیز خر خو یش به منزل بر سا نـد
وانکس که نداندونداندکه نداند درجهل مرکب ابدالد هر بمـا ند

لکه چه اطباء او دا کتران د ځینی مز منو امراضو د علاج عا جز دی همدا
رنګه د نفسی او رو حی امرا ضـو اطباء او دا کتران د مر کب جهـل
دعلاج عا جز دی او داځکه چه دارنګ خلك سره د نا پو هی ځنی د پو هی
دعوا هم کوی او دیته نه حا ضربږی چه ځان په خپلی ناپوهی خبر کـړی
حضرت عیسی نبینا و علیـه الصلواة والسلام به ویلی چه زه
دعلاج دمو رنی وړ وند اود مرض دا برص ځنی عاجز نه یم لیکن د عـلاج
کو لو د احمق ځنـی عاجز یـم . دو مره ده چـه

یو څه سړی ته لږ قدری اطمینـــان ور کوی چه کو ندی ددی مـــر ض مصیبت رسید لو خلکو به علاج پری وشی هغه دا دی چه په دا رنګ خلکو دی د ریا ضی او سا ینس علـــوم وویل شی لکه حساب او هند سه او دا سی نور څکه چه په علو مو کښـی حقا یق په ستر کو مشا هده کیږی او مطا لب بداهت ته رسیږی څکه چـه ددی علو مو په ویلو کښی به ورتـه لږ لذت حا صل شی او په حقا یقـــو با ندی به یو څه پوه او عا دی شـی نګوندی په ورو ورو سره دا مر کـب جاهل یو وخت په خپلو خطا وو پوه او ددی دعوا و نکړی چه زه پوه یـم او په دا وسیله دده د جهل بسیطه شـی او بیادیته حاضر شی چه خپـــل خطاوی دعلم په بر کت سره محوی نګړی او د بسیطه جهل څخه هم نجات ومو مي. محترم لو ستو نکی به خدای ښخبر چه دځنګه ناپوهانو سره مخا مخ شوی وی او زه نه پو هیږم چی دوی په کوم جا هل مر کب لید لی وی او که نه او یا دوی به دا سی نا پوه چه دسړی زړه خوری او اسما نی تندر به وی چیر ته لید لی وی او که نه لیکن ما په خپله خو زښت ډیر دا ســـی نا پو ها نو سره خپل زړه خو ړلی او نجینی دا سی مر کب جا هلا نو ســره مخا مخ شوی یم چی تر ننه پوری په دا عقیده یم چه دا سړی به هیـــڅ د سا ینس او ریاضی په علو مو اود افلا طون او بو علی او د نا بغـــه پو ها نو په تعلیم به پوه او انسان اله شی هو.

چه په لوح محفوظ ښکلی لیو لی وی +په تعلیم دمعلم به هوښیارته شی.

لیکن زمو نږ وظیفه دا ده چه اول به ددوی د پو هی دپاره سعیه لرو او په آخر کښی به دو عا ور ته کوو .

پیرتذر

دغتو او لویو مهومسائلو څخه د جا معی د هر ډول دلور تیا اوترقی تشخیص پری تا کل کیږی هغه قوت اوطا قت دپیژ ند لودی. که څه هم دا قوت داصل تخلیق په اعتباراولحاظ د مخلوق د اختیرا تو نه پورته او لور دی او د خا لق جل جلا لـــه په علم او حکمت پوری مر بـــوط او منوطه دی اومو نږ مخلوق ته روا نه ده چی خلك به ددی قوت په ضعـف او لږ والی کی چی د پاك خدای عطاءاو پیرزو ینه ده مسئول کنـــواودا ځکه چی ممکن حقیقی حکیم به د خپل مخلوق مصا لح او فوا ید په دی کی ګوری چی ځینی خلکو لره به پـــه ځینی نورو با ندی په اصل تخلیق کی اثر جیح او فو قیت ور کوی لاکن کوم هغ ه شی چی انسان په هغه کـــی مسئو لیت لری هغه د پیژ ند لـــو دحس نه تربیه کول دی هو: که مونږ د جا معی د در دو نو او د وطن پیرته پاتی کیدو ته ښه عمیق او متو جـه لشو نو یوا ځی کوم شی چی زیـــات اودهـــر څه نه اول دتوجه وړ دی او

دټو لو ته چې کوم یو مهم او غټ علت سړی ته ښکاریږي هغه همد غه د نه
پیژ ند لو مر ض دی. دمثال په ډول که زمونږ مریض په خپل طبیعـــت
پوه وی او د خپل صحت سره یې موافق او مطا بق اشیا پیژ ند لی او دخپـل
د تشخیص مرا عات یې کو لی نو بـه ضرور په مرض نه اخته کیده په دوهم
در جه کی که زمو نږ دا کترا نـو اوطبیبا نو د مرض په تشخیص کـــې
کا فی لیا قت در لودی نو به په عالم اسباب کی دومره امراض او دمـرض
په دو مره طوا لت او تلفات نـه وی همدا وج ه ده چې امراض ورځ په ورځ
زیاتیږی او طبیبان اوډا کتـــو ان دمر ض په تعین او تشخیص کـــې
ضعیف دی او کله نا کله لا مهلکـی دواوی هم ور کوی همدا رنگـــــه
د اجتما عی حیات په هره بر خه کـی په اصل احتیاج باندی ځان پوه کول
او عمل او پیژندنه دلایقو اشخاصو او بیا ور ته کار ور کول لاز مـی او
ضروری دی. هو: دهر څه نـــه او ل دا خبره ډیره ضروری ده چې اصـــل
احتیاج معلوم کړو او د عقل په حاصل پسی بدی و نه و هو اود اصل احتیاج
معلو مو لو دپاره فکر و نه په کـــار وا چوو او د خلکو شور او فغان او آه
ته غوږ کیدو د پو هو لایقو اشخاصو نه معا ونت او مر سته و غوا ړو او له
هری خوا نه معلو مات را غو نـــدکړو کله موچې تول احتیا جـات اود
خلکو در دو نه راغو ند او معلوم کړل بیانودحل اواجراء دپا ره با یـــد
ضروری او لازمی کار ته د تو لو نـه اوله مو قع ور کړو ه

تر څو چې د وس په موافـــق او ایجا با تو مطا بق د وخت سره برابر
په ښه ترتیب کارو نه اجراء اوحل‌شی کله مو چې د اصل احتیاج معلو مـول
او د ضروری او حتمی کار وجدا کول سره وکړل نو بیا هم با ید په یـاد
ولرو چې یوازی پـه یوازی دحـــل لپاره ه‌د کار د خلکو پیژ ندنه ده هو
د کار د عا ملو اشخا صو د پیژ ند لو دپاره ډیر دقت او اهمیت ور کول په
کار دی. اوداځکه چې‌هیڅ کار خپـــل په‌خپله نه اجراء شوی اونه اجـــراء
کیږی د پاك الله (ج) حکمت او لطف دی چې مو نړ ته یی تو فیق او طاقت
را کړی چې تول مشکلات او تکا لیف‌اود کار کولو موا نع پـه تحمل او
زیار او دقت سر ه‌پور ته کړو هـــو ددنیا مشکلات په عقل حل کیـږی اود
عقل پیژ ند نه د خلکو کار دی. داهم با ید ووا یم او ومنله شی چې دکـار
معلو مو لو او عا قلو شخصیتو نـو پیژ ند لو دپاره باید د خلکو دلیاقت
او ذکاوت د تو لو خواو مراعـات او لحاظ و سا تل شی او بیا ور ته پـــه
کامل اعتماد او صلا حیت کار په غاړه‌واچول شی دا وخت نوبیا حق لـرو
چې د کار او اجرا آتو نه یی د ښـی نتیجی او ثمری امید او انتظار وکړو
هو دکار خلك با ید وپیژ نو د کار دما شین پرزی باید د غا فل‌ـ غا در،
خا ئین،کا ذب،بوټ پاك ډیـــــر ویو نکو اشخا صو په لاس ور نه‌کړو
ځکه یقین وکړی چې دا کسان خلـك متنفر کوی او فساد را ولـــی او ه
مملکت نظام خرا بوی اوس چـــــی د حکو مت او معا رف په تو جـــه او

زیار جا معه رو ښا نه او خلك پـــوه شوی ذی نه ښا یی چی مو نږ پـــه خلکو یا ندی د نا پو هو او غا فلـــو خیال وکړو هو خلك پو هیږی اوهغه اشخاص چی د ملت او حکو مـــت د سعادت، فلاح، رفا هیت دپاره کـــار کوی پیژ نی یی خلك کوری اوتجربی کوی چی کوم کوم اشخاص د کـــار لیا قت، طا قت او صلا حیت دوطـــن سره عشق او علا قه لری د محتر مـو لو ستو نکو د تو جه د جلبو لودپاره غواړم دا هم عرض کړم چی کار کول کو می مخصو صی قا فیی او مود تـه احتیاج نه حس کوی او نه خـــاص دتخصص په پا نې پوری تو قف لـری هو : منم چی تر بیه ښه ده تعلیـــم ضروری دی لیکن د کار دپاره صحیح مغز او تجر به ډیره حتمـی ده او دا ځکه چی صحیح ما غزه او د تجر بی خا وندان په لږو معلو ما تو سره هم د کار په وقت کی دا سی صحیـــح نتا یج او ثمرات ور کوی چی یوازی دپلوم صا حبان هغی ته نـــــه ور رسیږی کف او کا لر عصری جامی مودا وفیشن دکار دپاره ضروری نـه دی او نه د مثال په ډول ډیره اوپګړی او چپن او ځا در د کار سره منا فات لری محترم لو ستو نکی دا خیـــال ونکړی چی زه کو ندی د تر بیـی او مکتب دبستان او طبی دا کتـــنری دمعلو ما تو او فوا یدو نه منکر یـم نه نه دا سی نه ده زما اصلی اسا سی هدف او منظور د خلکو پیژ ند لـــو کی دیر دقت او پلتنـه ده. دا ددی دپاره چی د خلکو په صوری او ظاهری قا فیه او د رنګ په غور والی اوپه

غټو غټو قا لبی خبرو غلطه ټه شـو ځکه چی علم او فضل جدا کار او عمل
علیحده شیان دی او تجر به ځان ته منازل لری همدا وجه ده چی ډیـــر
اشخاص په کاراوعمل کی کا مل دی لکن په علم او فضل کی ناقص دی ه
لو کوم هغه اشخا ص چی په علـم فضل کار او عمل کی ښه وی او بیـا
لا تجر به هم لری زه دا نه وا یم چی دا رنگ خلك د احترام اوقدر لیا قت
ټه لری زه د دا سی اشخا صو د قدر او اهمیت ملگری یم ځکه دا قسم خلك
پو هیږی چی جامعه کوم کوم مشکلات او احتیا جات لری او د کار کو لـــو
صور ت او صحیح اجراآت په څـه قسم او په څه شوا خون وی او دا
رنگ خلك په علم او فضل کار اوعمل او تجربی سره داشخا صو قدر
او احترام لری دی په صحیح کاراودخلق الله داحتیا جاتو په حل کولو
کی لذت حس کوی زه دداسی حس نه په ښه صحیح سالم حس اودملت
او حکو مت ددردونو دپاره په مجربی نسخی سره تعبیر کـــوم دا شریف
حس یعنی دا دخلکو پیژند لو قو ت او اهل کار ته کار ورکول او نـــه
عاطل کول یوه جامعه زر تر زره مخ په پورته بیایی زه دا یقین لرم چی
دحکو مت په توجه او دمعارف پـه مرسته او تبلیغ بـه دا حس ور ځ
پـــه ورځ تقویه کیږی اود مقتدرواشخا صو نه امید لرم چی دا دقدر
ور حس تقویه اود جامعی ټول مفاسدمحوه کړی ه

د سعادت معراج

شك نشته چه پاك خدای ما شیـن دحرکت ددنیا د انسانانو پـــه لاس ورکړی اولکه چه کتل کیږی انسانانو ترینه د عقل او فکر او کار په اندازی سره فوائد اخیستی داهم با ید وویل شی چه کار په تربیی سره کیږی او طبعی پوه په تعلیم او تعلم او تجربی سره درجه په درجه کمال ته رسیږی. هو کله چه د خلکو تربیه او سویه ښه شی او وکړی شی چه ددینی اودنیوی په لیارو او چارو پوهشی بیـــانو داویلو شوچه حقیقتاً داقوم دفـلاح او سعادت معراج ته ورسیده همدا و چه ده چه کوم قوم او ملت او حکومت چه دمعارف په شقوقو کښی ترقـــی او تربیی په لیارو اوچارو کښی بریالی او موفق شوی هغه جامعه په واقـع کښی د ژوندانه په رازونو او اسرارو عالمه د نورو محتاج الیه گرځید لـی شی با لعکس کوم شخص او یا کوم قوم چه د تربیی د رڼا په حقیقی معنی سره وروسته او لری ولیدلی وی هغه انشی کولی چه ترقی وکړی او تر قی لاسه کړی چه خپل موجودیت قد ر ی

محافظه او وساتلی شی همدا وجه ده چه سالك والی،

قلندران طریقت به نیم‌جو نخرند، قبا اطلس انکس که از هنر عاریست،

زه په دا عقیده لرم چه ددنیاوکړی‌اویاقوم اوملت به هله کا میا ببیږی چه دمعارف‌په تولو شقوقو کښی‌عملاً پوه او بیا په توازن سره خپلی‌لیاری او چاری سمی او برابری کړی نـــوداد معارف وظیفه کنو چه د افکاروبه روزنه کوی اوخلك به با تعـلیمه اوتربیه کړځوی او داد معارف کار دی چه هر څه نه اول باید د تربیی دپاره‌دکار خلك وپیژنی او کار وکړی بیا دکار د خلکو فریضه ده چه د کار دپاره‌په توازن سره سړی جوړ کـــړی او جامعی ته تقدیم او د عمل میدان تـــه‌راوباسی داد معارف کار دی چـــه د صداقت اوسیا ست اوثبات اوشجاعت‌او پاك نفسی او حلم او اخلاق او صبر په اندازی به خلـــــك پوه کوی اوفائدی او نقصان‌ته به ئی را بیداروی زه په دا کښی څه‌نه وایم چه ز مو نږ‌په معارف کښی څومره مصرف شوی او کیږ ی‌او په معارف کښی د مصرف‌په اندازه خلك تربیه کیږی او که‌نه کارئی لایقو خلکو ته ورکړی‌اوځنـــګه‌اونه په داسی مسائلو کښی زماغرض نشته زه خپل ایمانی او وجدانی وظیفه‌همدا بولم چه همیش همد ا ووا یـــم چه افغا نستان نن په علم او پوه کښی‌دپرون ځنی یو په سله دیر ښه د ی پرون په یو کلی کښی څه چه په یوه قریه کښی یو لوستونکی او لیکونکی هم نه و نن په هر کلی او قریه کښی‌دیر دیر خلك لوستونکی او لیکو نکی

پیدا شوی او دیرو لو ستلـــو ا واوریدلو نه مو ټول سر په درد شوهو
اوس مونږ ته سره ددومره ډیره ویلواو لوستلو یو څه په چپه خوله کارهم
لازم دی مونږ ته دا په کار ده چه خپلی دشتی او میړی آبادی کافی فابریکی
پیدا کړو او ترینه کار واخلو خپـــل زراعتی او صنعتی چاری سمی او دی
دومره بیکاره خلکو د پاره کار پیدا کړو اودا ځکه چه دوطن غټه سرما یه
خلکو ته کار پیدا کول اوپه داوسیله دخلکو د اقتصادی مشکلاتو مرا عا ت
دی مونږ باید ښه زیات عمیق شوچه واردات مود صادراتو نه لوړ نه شـی
اودا ځکه که واردات مود صادرا تو نه لوړ شول نو دوطن ښته به مو تو ل
په زیب اوزینتاو فیشن لوکس جامو او سامان او رنگ او روغن صرف شیء
مونږ باید پدی پوه شو چه دا د وطن زمونږ دی اود وطن ترقی او تعا لـی
به په خلکو او په کار سره کیږی .هووطن په خلکو ښه ښکاری او خلك په
کار او کسب مونږ باید داسی ونکړوچه ځان ځنی قصداً تیار خواره جوړ
کړو او په کار کولو وشرمیږو و داسی ونکړو چه په آفر ین او ثنا بـــس
پسی مو زړه وچوی هو مونږ باید دخپل ځان په صفت او مدحی مـیـن او
خوښ تر داسی اندازی نه شو چـــه ترینه من من غوښی واخلو او کوم عاجز
سړی چه هغه د صفت او مدحی په فن کښی مبتدی وی او نشی کولی چـه
خلك په تشو خبرو خوښ کړی هغه بدو گنو مونږ باید په دا غلطه خبرو
ونه غولیږو چه خلك ئی نه کړی نومونږ به ئی ولی وکړو او دا ځکه چه

هر څوك ځان ځان ته مسوولیت لري هوکه ځلکو کار ته له پرینښود نو هلته نو بیا حق لـــرو چـــه قراره پـــه قراره استـــرا حـــ وکړو اویا دغم سندری ووایو مو نږ بایددا ونه وایوچه جولایم اوکه ندا هم باید لا بس واچوو او پښو ته حرکت ورکړو چه ورځ په ورځې خپل کار او صنعت ښه کړو ځما مقصد دادی چـه داسی نه شو چه نظریات لږ خبر ی دیری او عمل لږ داسی نه شو چـــه خیالاتو او او هامو د تطبیق د پا ر ه دکار نه لاس واخلو دا خو دیره ښه ده باید آفرین ووایم چه د سعادت دپاره مونږ لږ لږ چور تونه وهو لکـــن دا غلطه ده چه کار نکړو او بیا لا یو هالم اوپوه اوتجربه کار هغه چـــــه دده ماغزه دیر څه وینی اود خلکو په غلطی باندی هم ښه پوهیږی اودقوم اود وطن د خدمت د پاره زښت د یـــن ارمانونه لری ترینه کار وانه خلو .هودسعادت معراج اود وطن ترقـــی او تعالی په دی کښی ده چه ځان پـــو ه کړو خلك پوه کړو کار وکړو او دکار خلکو ځنی کار واخلو ، اود ځان ا و قوم اود وطن او ددنیا د مو فقیت دپاره قدم پورته کړو .

ددنیا موفقیت

آنسان ددین او ایمان او وجدا ن په لحاظ مجبور او مسئول دی چه د خپل وس ا و طاقت سره سم هغه ووا ئی او ولیکی په کوم کښی چه د خلکو او دانسانی ټولنی گټه او فایده وی .دًاد سلیم طبعیت حس او ذوق اوپوهو اگسانو نظر په دهچه دعالم داصلا ح له امله دی په حکیمانه صورت سر ه د جامعی د خیر او فلاح لپاره کار وشی. نوځکه زه غواړم چه د گرانو لوستونکو دمعلوماتو له پاره څه حقایق ددنیا دموفقیت تر عنوان لاندی و لیکم په دا ترڅ کښی د انصاف له خاوندانوڅخه هیله لرم چه د تعصب نه کار وانخلی اود مضمون مقصد په پو ر ه دقت سره ملاحظه او مطا لعه کړی او د لاندینی سوال او ځواب او تحقیق ته ښه ځیر شی ه

پس:ـ دنیا د کشف او اختراع په سلسله کښی مخکی اتللی او که نه ؟ پیر ته پاتی ده ؟

ج:ـ صنعتی، زراعتی، تجا ر تی، طبی، او علمی چاری او پلټنی حتی

آسمان د ختلو قصد او دعوه، حر بی‌آلات اوسا مانو نه دا ټم اوهایدرو جن
همونه په واضح دول ثابتوی چه دنیادکشف اواختراع په سلسله کښی
دیر مخکی تللی ده .

س:ــ نو په خوا داد ومره کشفیات‌او اختراعات ولی نه ؤ؟

ج:ــ ددی فلسفه داده چه وروستنو خلکود پاره مخکینیو خلکو مبا دی
پیدا کړی وو نو دوی په لټه کښی کوم تکلیف ته محتاج نه شول او له
همدغه مقدماتی مباد یونه ئی گټه او نتیجه واخسته او وروسته تریوی‌لړی
سعی په نوی کشف او اختراع موفق او بریالی شول .

س: دی عصر ته‌باید بریالی اوموفق عصر ووایو ځکه د مباد یو نه
مقصد ته مرتبه په مرتبه په وا قع‌کښی همدا عصر ورسید او که نه؟

ج:ــ هو: ولی نه دا دومره ښکلی‌منظری ، لکس مالونه او موټر او
الوتکی ، نوی مود ، صنعتی اوزراعتی‌ماشینونه ، د سفر د پاره ښه مستریح
وسایل ، ښه رنگارنگ حربی آلات ،او اسباب ، دمریضانو اود ناجوړ یو
دپاره ښی شفاخانی او داکتران ، دسکونت له‌امله ښه‌عمار تونه اوودانی
دمیو دګ باغ (بن) راز رازطعامو نه‌او خورا کونه ، دموسیقی خوا ږه
آوازونه ، د رادیو اختراع با لا خره څه چه لیدل کیږی او اوریدلی شی دا
دول ددی عصر د نوابغو او فیلسوفانو بریالیتوب اود مخکینو د زیار نتیجه
ده اما دیر افسوس که څوک د خوندد پاره څوک پریږدی اود عالم دتخریبی

افکارو او هرج مرج اود انسان دمحوه کوونکو امراضو مخه و نیول شی ،
څکه هر څه که وی او انسان نه وی‌نوخوك به‌ئی څه کړی . دا دومره قتل
او قتول . ددنیا دوه غم نه دك عمومی جنگونه او په هر مملکت کښی اخ او
دب اود کوریا د لښکر و جګړی دسودان او سویز د کانال‌معامله . د
عربو او یهودو انو چور او چپاول دمراکش او تونس اختلاف او لا نجی
او مظاهری او ظلمونه ، په غربی‌او شرقی المان کی ناکلاری دهند
او پاکستان قتلونه د ایران د نفتوځندنی واقعه دمتحد ینو د نړی
قوماندانی جوړول او نظامی پکتو نه‌ددنیا په هر ګوټ کښی فکری اختلا-
فات ، نا حقه دعوی، جبر او تشد د،او حق پټول څان ځانی سیاست،دول
دول مذهبونه ، مسلکونه او عقید ی‌استعماری خیالات، حتی چه د نیا بالکل
د انسان د حرص او طول امل له‌لاسه‌سره ددومره کشف او اختراع او
پرمختګ د اور کوره ګرځیدلی ده اوداد اتوم او هیدرو جن د بمو د آثارو
نه ډاسی معلومیږی چه د تباهی نښی‌او علامی دی او سړی په دی سودا
کښی‌غور ځوی چه د انسان نسل به‌یوځل‌بیخی د ځمکی له مخی محوه‌شی،
س:ـ دا خو نو بالکل موفقیت او بریالیتوب نه شو بلکه ناکامی ورانی،
خرابی ده معلومه شوه چه د نوابغو‌مخترعینو ، فیلسو فانو کا شفینو
دومره آوازی چتی دروغ او پف دی‌داخوکه د انور حیوانات پر مونږ پوه‌او
خبرشی باید وخاندی اود تمسخر په‌ډول آفرین او تحسین راکړی ؟

ج:ـ هوشك ئی گنی ورانی ـ خرابی به نور څنگه وی واقعی قیلسو فا ن او مخترعین ، کاشفین ،خو هغه و ی چه لااقل د خپل مستریح حیات د ارام ژوندون اود انتظام د وسائلو علم‌اوعمل‌ولری ـحیوانات هم‌خپل منځ‌کښی یوتر بله عاطفه لری مثلاً بازد دباز،شندله شند ،لیوه دلیوه ، پرا نگ دپرانگ همدارنگه نور څیرونکی اونه څیرونکی حیوانات یو له بله خپل په مینځ‌کښی رعایت کوی خو پر ته له انسانه چه خپل په مابین کښی سره خوری یو پر بل باندی تجاوز او تیری کوی .

پس:ـ ښه داولی او په څه په دنیاکښی دومره نا کلاری پیدا شوی ده؟

ج:ـ دا سوال ډیر مغلق دی سړی‌دفکر په جولان او حرکت کښی‌ستومانه کوی بیا هم ماته د ډیر غوز او دقت‌په لحاظ اود مذهب له لیاری ئا بته شوی ده چه دا ټول د پاك خدای دعدم‌اطاعت او نا فرمانی آثار او د انسا ن په خپل کمال غره کیدلو نتیجه ده‌نن له یوه طرفه د دنیا پرمخ تگ او ترقی او له بلی خواد اخلاقو ضعف تنـز لاودا عجب او نادر وقایع راز راز او رنگارنگ مذاهب ډول ډول افکـــارمختلف سیا ستو نه ددنیا کشمکش‌او های اوهوی دا تخریبی آلات ســړی‌حق حیرانوی او په انتهائی فکـر لو صحیح تعقل کښی ضرور په دی‌اقرارکوی چـــه یو خالق الکل مر بـی مد بر ذات شتـــه چـــه په خپل‌حکمت ئی دا لوی ماشین د دنیا په لکونو لکونو پرزو سره‌چالان اوروان‌کړی دی او خلکو ته ښیی چـــی

په دنیاکی یو بل لوی واك لرو نکـی ذات شته چی هغه ته تا سی تـول طوعاً او کرهاً راجع او تا بـــع یا ست او که خلك دده د دین پـه امراو نهی او هدا یاتو روان لشـــی نو به د انسان تو لی عقیدی اواړکی حل اودد نیا په تولو چارو کی بـه دحق دین په رنا کی فا ئده او ثمره وا خلی .

س:ـ په دنیا کی څو مره ادیان او مذاهب دی ؟

ج:ـ په دنیا کی ادیان اومذاهب له حد نه وتلی دی .

س:ـ داټول ادیان حق دی او که یو؟

ج:ـ ددی عصر د عمل د پاره یودین حق دی او حق په ځای دخلاف کی علمی تحقیق او څیړ نه وا ئـــی چه یو دی .

س: دا دومره نور باطـــــــن ادیان چا پیدا کړی چی دخلکـــــو دهلاك مو جب شوی دی؟

ج:ـد استعمار د مغزو خاوندانودقوم ناقصو رئیسا نو پیدا کـــړل او دا ځکه چی د بر بر یت فرعونیت خا وندان چی کله پوه شوی دی چی په دا لیا ره زه خپله شخصـــــی فا ئده نشم کو لی او دا اقتدار په زمانه لاړ شی نـــو ددین اومذ هـب په نامه ئی دیر ساده خلـــــلك غوـ لو لی دی او په دا چل او دوکـــه ماری ئی خپل شوم مقا صد اواغراض حا صل کړی هو: د دنیا با تجر بـه او با تر بیه منصف خلك پدی پـوـ

هیږی چی دا خبره حقه آو ثابته ده‌آو داحکه نن که یو ځل په تو لـــی دنیا نظر واچول شی نو د دنیـــــا په تو لو نا کلاریو ناآرامیو کـــی د استعمار او استثمار خاوندان پوره‌لاس لری.

س:ـ ددی غټی نا آرا می‌اختلاف، تشدت، علاج به څوك وکړی چـــی تول خلك دیوه حق دین لانـــدی راجمعه شی او په آرا می خوښـــی، آزا دی د یورنګی په فضا کی ژوندوکړی ؟

ج:ـ ددی سخت مرض علاج هـم‌سخت دی ځکه چی‌په نړی کی بالکل عدم اعتماد او د اخلا قو ضعـــف‌جاری دی بیا هم که په بین المللی موسسه کی واقعاً بین المللـــــی‌اشخاص ، نښه عالمان، دموا ز نـی با تجر به صا لح نما ینده گان سره‌تول او په تما مه معنی خدای پاك ته راجع شی اودصحیح مذهب اوآسمانی محکم دین په اساس خپل جریا ـ نات شروع کړی نو د خدای پـــاك په فضل او د دوی د جد جهد او د صحیح تدبیر په‌اثر به تول اختـلافات رو حی امراض محوه او پـــه حقیقی صورت سره به په یو آرام، آزاد مسعود ژوندون مشرف شـی.

دویمی علاج

کله چی د نفس تصور او خیـــال د یو ناوړه آینده پیښی چی پـــه دفعی د هغی با ندی قادر نه وی وکړی په دا وخت کی نو په نفس با نـدی خوف او ویره طاری کیږی او په زړه با ندی تکان او خفگان او غم او په اندا مو نو با ندی ریږ ده اوتشنج او ارتعاش راځی ویره دبدن د پاره زیات خطرات پیدا کوی او دیر کرته په خوا د وقوع د هغه وا قعـــی چی سړی ئی د بدو عوا قبو ځنـی ویر یږی مهلك عوا قب پیښوی مثلاً سړی که په یوه دشته او صحرا کی روان وی او په زړه باندی ئـــی داویره راشی چی دلته په کرم پـر انگ او یا لیوه راشی او ما به وخوری او داخوف دده په زړه باندی استیلاوکړی او طریان ئی مخ په زیا تـ والی لاړ شی آخر په خوا ددی ځینـی چی لیوه اویا پرانگ ورتـــه ضرر ورسوی زړه ئی چوی او یا مثلاً حتی خلك غوا ړی چی کوم کار وکړی لکن په خوا له کو لو د کار ځنـــــی په خیال د کو لو د کار کی یوخوف

دده په زړه با ندی را ځی چی پـه نتیجه کی ددا رنګ خلکو ځنـــی هرڅه خطا شی اویا مثلاً مـرض چی سړی په کی د مرګ د ویری لـــه املـه دو مره په خوف کی شی چـــی په نتیجه کی مرض پا تی او ویره د مرګ مو جب وګر ځی کوم هغـــه اسباب چی د ویری مو جب کیـــږی یا به اصلا حی کار وی او یا بـــــه اختلا لی چی ددی هر یو د پاره بـــه علاج وښودلی شی. ویره په څلـــور قسمه ده (۱) یو قسم ئی هغه ویره ده چی دوقوع دامر ممکن اواحتمـــا لی شی ځنی پیښه شوی وی یعنـی دا سی یو شی وی چی د سړی د قوت او طاقت ځنی بیرون وی او دوهـم (۲) هغه قسم ویره ده چی دوقـوع دامر ممکن چی دسړی پـــه خپـــل قدرت او اختیار کی وی او هغه کـار یو اصلا حی کار وی پیدا شوی وی لکه مثلاً سړی خیال وکړی چی ظالم به د ظلم ځنی منع او د مظلوم سـره به معاونت کوم په دا وخت کی یوه ویره پیدا شی چی نه چی ظا لـــم د ظلم سلسله زما پوری هم بـــه وغوځوی . (۳) دریم قسم ویـــره هغه قسم ده چی د وقوع د دا ســـی امر چی هغه امر ممکن وی او د سړی په اختیار کی هم وی او یو د فساد او اختلال کار وی نشوه او نما ئـــی کړی وی مثلاً چی سړی خیال وکړی چی دوطن اود خاوری انتظام اودسپلین به خرا بوم نو په دا وخت کی یـوه ویره پیدا شی چی د اقتدار خلـــك به می حبس او یا مړ کړی (٤) څلورم هغه قسم ویره ده چی له املـــه

د یو ضروری امر لکه د مرګ دخیال نه پیدا کیږی ،

ویره په دا څلور واړو اقسا مـــو سره یو نفسی او رو حی مرض دی او ددی مرض د پاره رو حی دوا پـــــه کار ده نو څکه دا لازموی چی لـــو مستو نکی دی دا نسخه یا ده کړی اود خپل ویری د مرض علاج دی پری وکړی .

داول قسم ویری دا چی ویـــره له دا سی امر ممکن احتما لی شـــی څخنی پیښه شوی وی چی د سړی پـــه اختیار کی نوی علاج ئی دادی چـــی سړی با ید ژر تر ژره دا ســـــــی افکار قطعه کړی او زړه ته داډ ور کړی چی دا یو احتما لی شی دی داسی نه دی چی ضرور به وا قع کیږی بیا هم که وا قع کیږی نو ویره خودهغی دفع نشی کو لی نوځه له پهخوادوقوع څخنی د ویری له امله څان تلفوم زه مکلف په پښه کار یم نور چـــی هر څه کیږی کیږی به .

دـو یم قسم ویری علاج دا چـــی ویره د یو دا سی امر ممکن شـــــی څخنی پیدا شوی وی چی د سړی پـــــه اختیار کی وی او اصلاحی کـــار وی علاج ئی دادی چی ویره با ید پـــه اصلا حی خد مت کی لکه د ظا لم منعه کول د ظلم څخنی او یا د مظلوم سـره معاونت هیڅ زړه ته را نه وستـــل لشی څکه داسی پښه عزم او قصددلو یانو او د اولوالعزمو خـلکو کار دی او د عزم او ارادی خلك لو یه غا یه اوهدف لری چی هلته ویره کـــو ع

اهمیت نلری په دا سی وخت کی سړی باید داشعر یاد لری :

مرد باید که در کشا کش دهـر سنگ زیر ین اسیاب بـــــود.

د پښتو متل دی چی لوی بارو نه وړی خوراك زوز دی . په داسلسله کی باید داسی خلك دمخکینیو پـوهانو اولویانو دژوندانه کار نا مـــی ولو لی او مطا لعه کړی او هلته په کی د هغی ثبات او حو صله اواستقا مت او په هغی با ندی د دنیا مشکلات او سختی او ربړو نښه تجز یه کړی او د خپل دزړه ډاډ د پاره ئی د ځان سره یاد دا شت و کړ خوی الله جل جلاله په کلام مجید او فر قان حمید خپل کی فرمائی.

(ام حسبتم ان تدخلوالجنته ولمایا تی کم مثل الذین خلوا من قبل کم مستهم الباساء والضراء وزلزلواحتی یقول الرسول والذین معه متـــــی نصر الله الاان نصر الله قر یـب) د تر جمی حا صل:ـ مسلما نانـو آیا تا سو گمان کوی چی جنت تـه دا خل شی او رانه شی په تا ســو با ندی تکالیف او مشکلات دمخکینـوقو مو نو چی هغی په حیات کی پـه لوړی او مرض اوپریشانی تر داسی اندازی مبتلا و چی ویلی به رسول او هغه اشخاص چی به دده سره ووکله به مدد او معاونت د الله پاك ورسیږی الله جل جلا له په جواب کی فرمایل خبر شی چی مدد او معاونت د الله پاك قر یب دی.

ددریم قسم ویری کوم ویری چی ویره د هغه ممکن شی ځنی پیدا شوی وی

چې د سړي په اختیارکې وي او یو ناوړه وضعیت او د جا معې د پاره مخل امروی ددی ویری علاج دادی چې باید د ځان سره فکر وکړی او خپل ایمان او وجدان حاکم وګرځوی چې په حیات او ژوند کې کوم کار د کولو وړ دی او کوم ندی او په داوسیله په خپل عقل سره د داسی اوضاعو ځنی اجتناب وکړی چې هغه موجب د نارضائی دخدای پاك اوسبب فساد د خلکو ګرځی مقصددا چې ددی قسم ویری علاج په خپله د سړی په خپل اختیار کې دی هو ایا سړی ولسی دا سی کارته اقدام کوی چې هغه موجب دفلاکت اوبدبختی دځان زاو د خلکو شی.

دځلورم قسم ویری کوم چې له یو داسی امر ځنی پیدا شوی وی چې حتمی الوقوع وی لکه مرګ علاج نی دادی چې سړی باید دا سی افکار په تصور او خیال کې راولی چې مرګ یوداسی امر دی چې خلاصې تری ممکن نه دی نوولی په خوادمرګ ځنی ځان د خفګان او د مرګ د ویری له املې وژنم ایا زما دا ویره کومه د فعله کې لنی شی او که نه او د تقدیر کره څوك دفعه کولی شی او که نه نبه نو چې څه مقدره ده هغه به کیږی نو پخوا له مرګه به ولی په عذاب مبتلا کوم د مرګ ویره اکثرو اشخاصو با ندی علی الخصوص د ضعف په حالت کې زیاته استیلا او غلبه راولی نو ځکه محترم لوستونکی دی مرګ د ویری د علاج تر عنوان لاندی په پوره ډول د علاج مطالعه وکړی .

د مرګ د ویرې علاج

دا با ید په یاد ولرو چې مـــرګ د انسان د پاره د ذات فنا نه رآولـی او دا ځکه چې انسان د نفس نا طقـه ځنی عبارت دی او نفس نا طقه پـه مرګ سره دو مره کیږی چې د بـدن ځنی ئی ارتباط قطع کیږی لکن دی چې خپله په نزد د قادر مقتدر وصـــل پیدا کوی او علی الخصوص ارواح ۵ هغه اشخا صو چې د حیات محصول ئی د بشر د اصلا حا تو او خد مـــت د پاره دفتروی دا رنګ خلك که څـه هم په ظا هر کی د دنیا د غـــــم ګډی ځنی سترګی پټوی لکن په واقع کی همیش د پاره ژوندی دی همدا وجه ده چې سالك فر ما ئی.

هر گز نمیرد آنکه دلش زنده شد به عشق

ثبت است بر جر یده عا لم دوام ما.

یو پوه پښتون ادیب وائی؛

زما ئی سره ئی لیار دمحوی نشته دایثار په کتو بښکل دی نوم ځما.

دمثال په ډول که د کوم ســـړی څنی لاس اویانوراعضاء پری کړ ی
څنی خلك دانه. وائی چی معدوم شو نو معلو مه نشوه چی د بدن په محوه
والی کی د انسان حقیقی محوه وا لی نه را څی نو که د انسان د روح رابطه
له بدن څنی قطع کیږی او بدن پـــه خاوره کی ښخ شی دا سی نه ده چی
انسان او نفس ناطقه محوه نشوهمداوجه ده چی دحضرت بلا ل دمرګ پـه
وخت کی دده محتر می ښځی دیره ها او هو کو له حضرت بلال ور ته په
خواب کی په دامضمون وویلی.

واویلا چه میزنی درپس مر گم ازحزن

واطر باهمی بگوی دو ست بدو ست میر سد

لو ستو نکی دی دا په یاد ولـــری چی د مرګ ویره به غا لب ددی لاندی
وجو هو له امله وی.

۱) داچی سړی ته دمرګ حقیقت معلوم نوی او ددی له کبله چـــی
مرګ ورته فناء د ذات ښکاری نـــو ځکه به خفه او په ویره کـــی وی.

۲) ددی له امله به سړی د مر گ څنی ویر یږی چی په مرګ به درداو
تکلیف ور ته ښکاری.

۳) دا چی سړی ته داعقیده پید ا شی چی په مرګ کی د سړی د پاره
د هستی نقصان دی او تو لی کمالات د سړی محوه کیږی نو ځکه په زړه
پا ندی ئی ویره را شی.

(٤) ددی له امله چی وروسته دمرګ ځنی به سخت احوال اوتکالیف پیښ
شی نوځکه دمرګ ځنی په‌ویره کی‌ولیږی چی څه به کوم اوځنکه به شئ
اونه چی‌په عذاب مبتلا شم.

(٥) داچی سړی په خپلو اولادو او دوستا نو او خویرو ملګرو با ندی خفه‌وی
زړو سسته دده دمرګ به هغی څه کوی‌اواولاد به ئی‌چاته پاتی شئی‌اودژوند
حالت‌به څنکه وګر ځی .په دا پنځو ولږوحالاتو کی‌چی سړی‌دننه دننه فکر
کوی‌اودخاوند تعالی قدرت اوانتظام‌دعالم چی ځیر او د دنیا په وقا یعو
کښی چی‌عمیق کیږی هلته‌سړی‌خپله په خپله دداسی عقد وحل کولی
څئی‌اوداسی‌شیان چی دخفګان موجب نه ګنی‌او نه دا سی عادی شیان دهمت
اوثبات په خاوندانو کوم تا ثیـــر اچولی‌شی‌چی‌ځان په خپل‌لاس دویری
طوفانی‌بحرته واچوی‌اودویری‌درنده‌ته‌ځان وسپاری بیاهم‌لو ستو نکی‌دی‌دهر
مادی په‌متعلق خاص خاص ددی‌لاندی‌مجربی نسخی ځنی ځان ته دوا جوړه
کړی.

(١) داچه خلك مرګ ځان دپاره فناء ګنی مرګ په څه فنادی ؟
آیا دا فناء په‌دی‌دی چه نفس او دبدن روابط سره قطع کیږی که دا
وی داخونو باید دویری موجب نـه شی ځکه چه مرګ فناء د نفس او د
ځان نه‌دی ځکه بدن د غو ښـــو او پلو او رګو او شرائینو اوهد و کو
او دځینی نورو اجزو ځنی جوړ د ی اوداجزاء کله چه دبدن او د روح

رابطه قایم وی هلته هم کله پـــه زیادت اوکله په نقصان اوتغیر کښی وی هو په ژوندانه اوحیات کښی د بدن اجزاء په هر آن او ثانیه کښـــی لمان لمان تهاوضاع قبلوی طفل وی مرا هق شـــــی مرا هـــــــق وی دلوا نی نیشه ور تـــــــــه ورشی لوان وی د کهولت اوشیخوخت په ادواروروا شی هوانسان پیداءلپاره دتغیر اوتبدیلی دی یواز نی شیچه دایم اوباقی دی هغه علم اوفضل او کمال دی اودښه عمل جزا .

(۲) داچه سړی ویر یږی چه په مرگ کښی به تکلیف وی علاج یـی دادی چه تکلیف اوزحمت دا تـو ل د بدن اودروح دارتباط له امله د ی اودبدن په ارتباط کښی په سړی باندی رنکارنگ دردونه راځی کله سردرد کوی اوکله پښی کله غاښپه دردوی او کله سترگه وعلی هذا لقیاس یعنی داتول زحمت اودبړد بدن پـه اثردی اوکله چه دروح اوبدن پـه مابین کښی ارتباط خلاص شی هلته نوددنیا تول زحمتونهاو تکلیفو نـه خاتمه پیدا کوی او یوبله دحیات اومات سلسله جوړیږی پهدا حقیقی حیات اومات کښی باید ددی حـنی انکار ونهشی چه ددی مانـنی دنیوی حیات عملی تاثیرات اغیزه لری اود دنیا ښه او بدکار او عمل رنگ دار وو کوی.

۳) که سړی پهداخیال کښی وی چـه مرگ نقصان دی اوتول کمالات محوه کیږی نودادی ددوا دپاره په یادلری چه مرگ متمم دکمالاتو دی نه مامی د

کمالاتو وروسته دمرګ ځنی سړی ته دکمال ثواب ورکول کیږی اودا بدئ
حیات دپاره موجب اوعلت ګرځی (الدنیا مزرع الاخرت)
دنیاځای دکښت داخرت دی نو که سړی کښت وکړی اوکښت او فصل
الی په پوخ والی راشی داوخت به ایا سړی خفه کیږی که باید سړی
خوښ وی چه اوس به دزحمت نتیجه اوثمره اخلم باید سړی کوم چه په
صداقت او ایمان او وجدان ئی دژوند دقیقی او ثانیی طی کړی وی دمرګ
وتقدن په وخت کښی ډیرخوښ اودالله پاك دحقووعد وامید ولری،
٤) داچه په دی باندی سړی ویر یږی چه اولاد او متعلقین به یی
وروسته دده دمرګ ځینی په زحمت او تکلیف شی زما په عقیده چه
داسی خلك په خپل عقل اومعلوماتو کښی نقصان لری یو عا قل او بل
علمه سړی باید دیته فکر وکړی چه آیا انسان په اصل کښی څه
وو او بیا څنګه شو د انسان دپیدایش ځینی نیولی تر مرګ تبی د رشد
پوری چه کوم تغییرات او تبدلات سړی اوتودی پیښیږی دا ټول حالات
سړی ته دانښی چه انسان د فکراو تعقل ځینی بیرون یو داسی مقتدر
حکیم خلاق الکل مربی او تر بیه کونکی ذات شته دی چه هغه په
خپله دموجود اتود هر ډول انتظام کوی او واقعا مربی او تربیه
کونکی دی نو د سړی داولادی او متعلیقنو سبب الاسباب پاك الله دی
هو ډیر کرته ځنی خلك په حیات کښی دخپلو اولادو نو اومتعلیقو نو

تربیه له شی کولی او سره ددی چه عالم او فاضل هـــــــم وی او
ډیری مندی او رامنـد ی اوهلـی اوزلی هم کوی بیا هم هیڅ په لاس
له وریځی او د خپل اولادا و متعلیقینو تربیه تری خرابوی ډیر کرته یـو
سړی سره د ډیر مال او ثـر و ت ځنی ټول متعلقین ئی بی علمه او
ګماله پاتی شی او کله بیا په زیروزیر وسترګو ورته ګوری چه زوی
او ورور او خپل او خپلوان ئی دمرګ په حالت کښی دحـیات سره
وداع کو ی که په مال او په ثروت باندی د اولاد دپاره چا حیات او یا
پهعقل اوفکر باندی داولا دو ځنـی چادمرګ دفعه کولی شوه نـــو دا
چه سړ ی په او لاد با نـــــد ی و یـر یږی نو دا رنګـــــــــه
خلك دی اول په مال او عقل باندی که نروی دخپل ځانه ځنی دمـر ګ
دفع وکړی نو معلومه شوه چه سړی باید دمرګ ځنی ونه ویر یږی .

ه)اوکه سړی دمرګ ځنی د خپلـو بدواعمالو پهاثر ویر یږی نوتو بـه
ډیوکا ږی اوکوشش دی کوی چـه ښه عمل وکړی هو داویره ښه ویره
ده لکن هلته چه ددی ویری داتاثیر نه شی لکه چه د پښتو متل دی(توبه
دبدو اوکه پیښ شو حمله په پدو) که داویره په اخر دحیات کښـــی
پیښیږی بیا هم ترغر غره پوریصرف په حق د حقوق الله کښی قبوله دی
اوسړی باید داپه یاد ولری چـــــه په حالت د صحت کښی بـا یـــده
خدای پاك ځنی ویره له امیده ډیره وی او داځکه چه سړی کوشش وکړی

چه ښه عمل وکړی اوبه حا لـــت دمرض کښې به امید باید دو یـــرې
او ترس ځنی ډیر ه وی ځکه چه پـه مرض کښې خودسړی ځنی له املـه
دعدم قوت اوطاقت دطاعت او عبادت او عمل سلسله قطع کیږی .

٦) کەسړی ددی له املە ویر یږی چه مال او اسباب اود دنیـــــا
معیشت به ترینه پاتی شی دا قسـم ویره باید ونکړی ځکه هیڅ شی دایم
او باقی بی ذات دوا جب الوجود ځنی نه شته دانسان داو ظیفه ده چـه
سعیه او کو شش به کوی چه څـه په حلاله اوجایز صورت سره پیـدا
کړی او غرض به یی داوی چه د بشر او دعالم داصلاح او انتظام په لیاره
کښې بی یی خرڅـوم او پس د دی وروسته محترم لو ستونکی دی پـه
یاد لر ی چه طبعی اجل ضرور رسیږی او هیڅ مخلص تری نشته یو وخت
داسی راغلی او راځی به چه ښا یسته ښایسته قدونه او بادامی ستر کـی
اودګل رنګ دا ټول محوه او نا بـــود کیږی او که په دنیا کښې مر ګ نوی
شاید دنیا به په انسا نانو با نـــه ی قدم په قدم هم نوی رسیدلی اخر هر
مرکب منحل کیږی اود مرکب عنا صر به یو ځل بیاانفرادی شکل خـــان ته
قبلوی .

کین سیل متفق بکند روز این درخت * وین باد مختلف بکشد روزی این چراغ.

نوټ: مختلف باد اومنقف سیل عبارت دځلور عناصرو ځینی دی چی کلـه
په اتفاق وی او لله په اختلاف .دتل ژوند ون کول ا مید له یوظر فـه

خیال او محال دی او له بلی خوا به پوه خلکو ته معلومه وی چه عمـــر
هغه ښه عمر دی چه وجود صحیح او سالم وی سړی و لونی شی چه په
صحت د وجود سره او فکر په کـــارو چوی او په دی اثر ځان او خلکو ته
مفید ثابت شی کله چه وجود مخ په انحطا طه روا نیږی داوخت دد نیـــا
تول لدا ځاو خوند و نه هم د تنـــزل خواته قدم اخلی تر داسی حده پوری
دبدن په تنزل سره د ژوندانه خو ند خرا بیږی چه اخر عقل او منطـــق
هم دلا س ځنی لاړشی ظاهری او باطنی حواس دانحطا ط طی لـو ی او
ملاکرو په غابنی و تلی ستر گی بی نوره غوږونه کا نه ویښته سپین مـــخ
گنجی بالاخره بدن په ریږ دیدو پیـل و کړی او ډیر داسی خلك لیدل شوی
چه په اخر دعمر کښی یو موټی غـــو ښه ناسته اوولاړه یی په تکلـــیف
وی زوی اوورور اوخپل اوخپل وان ور سره په تنگ په ځای ددی چه ورته
دوعا و کړی چه ژوندی دی وی وایی خدای پاك دی اوس په خیر ســـره
فیصله گړی داوخت په خپله سړی هم دحیا ت په دقیقو گښـــی هـــردم
تکلیف او زحمت حس لوی ښـــه نو داسی حیات چه په نورو تکلیـــما
شی اودځان دزحمت مو جب وگر ځی خوك به یی څه گړی نو ښه داده چه
سړی به دحیات په مدا و جزر گښـــی یوازی په یوازی همدا امید او ارزو
ولری چه دځان اود خلکو د پـــاره خدمت و کړی هوتر خو ژوندی ر ی
دحیات مقصود به یی همدا وی او په حیات کی به همدا غواړی چه پـاك

خدای دشرف ژوند اومرگ می پـه نصیب کړی کوم چه په ژوند اومرګ
کښی ایمان او وجدان ته حجا لـــت نه لرم اود ستا درضی موجب شی او
داردل العمر ځنی چه دستا کـــران رسول ترینه نجات غوښتی ماته هـم
نجات راکړی هو سړی باید پهمقتضاد (موتو اقبل ان تموتوا) باندی عمـــل
وکړی یعننی باید همیش سړی په خودامرګ ځنی داسی کاروته اقدام وکړی
چه هغه ورته وروسته دمرګ ځنی په کار راشنی افلاطون ویلـــــــی
(مت بالارادة تحی بالطبیعة) مړشه په ارادی یعنی دمرګ دپاره د ژوندا کـه
په ادوا رو کښی کار اوخدمتوکـړه تر څو په طبعی مرګ سره همیـــش
دپاره ژوندی پاتی شی او افتخـار ی حیات دی په نصیب شی داوه د مرګ
دستفان دعلاج دپاره هغه مجر بـــه نسخه چه ددی مرض مصابان به کـه
عمل پری و کړی سل په سلو جوړشی او امید دی چه عالمی همت خلکودپاره
دیو تذکر په ډول یادونه وی او حپل په خپله دارنګه ویره چه بی دنقصان
ځنی کومه فائده نه لری دزړه ځنی وباسی وسواس او واهمی ته کـــرم
اهمیت ورنه کړی په پوره میرا نـی ترخو چه ژوندی وی کار او عمل پـه
پوره جدیت او فعالیت مخ په وراندی بوزی اود جامعی هغه افراد دو تـــه
چه دمرګ ویری ددوی هرځه اختمانی کړی وی قوت قلب او هادی شی ن
شوداډول افراد دښو خد متو نـــــو مصدر شی .



عالی همت

یو دلو یو صفاتو څخه چه انسان سترو افتخاراتوته رسوی او په هر شمل باندی یی بر یا لی کامیابوی (عالی همت) دی انسان ته د ژوندانه په دور و کښی ډیری ډیری اړ کسی او زیاتی لانجی په مخ کښی رالخی هو : ولږه تنده بر بند والی . راز، راز امراض او لحینی نور موانع او شیان دی چه د ژوندانه په دورو کښی هرو مرو په سړی را تلو نکی دی اوناکامی او کامیا بی خو یوتر بله سره تړلی ده او خلاف التو قع شیان ډیر پیښیږی نوبوا څخه شی چه ددا سی مشکلا تو مخه نیسی او سړیته قوت قلب او د زړه طمانیت ورکوی هغه همدا عالی همت دی دعالی همت خاوندان همیش دمشکلا تو په لیدنه موسکی ،موسکی خاندی ثبات او حوصله له لاسه نه ورکوی او وروسته دزیار او زحمت څخی هرڅه چه ورته پیښیږی مقاو مت نه با یلی او په پوره متانت او استقامت شپی او ورځی تیروی هو : دا سی دلوړ همت، شخصیتو نه لرمی اویخی،

شدت او ترخه ، او خوا ره ټول عادی شیان کښی دلوړ همت له څښتنا لـو سره اندازه وی قانون لری او پـه صحیح تدبیر اوپه تاریخی وقا ئعو سره زړه تـــه داد ور کوی فکر او سنجش عقل او تمیزد ښوا وبدو فـرق داد لوړ همتو خاصه ده . جد یـــت او فعالیت ، غیرت او میرانه د حـــق او حقیقت دپاره جائزه مجادله په لوړ همت سره کیږی ، پاك نفسی او صداقت په مخامخ او وروسته یو شا ـــی حال لری دلوړ همت آثاراو مظاهردی عالی همتان په هر وخت کښی په هرجامعه چه وی یورنګ ،یودین او یـو مذهب لری . دارنګ حلك دلید ونکو په سترګو او نظارو کښی مختلـف ښکاری نو ځکه څوك په یو ډول اوځوك په بل شانی تعبیر ونه تـــری کوی، دعالی همته خلکو سره هر څه شته او هر څه لری او همدوی د ی چه دخلکو دژوندا نه بیری د هلاکت ځنی بچوی هو ! دوی سرو نه ور کوی اود حیات په قربانی کښی هیڅ تردد او ډیله نه لری لکن دوطن نامـوس او سرونه ساتی اود جامعی اووطن سعادت او افتخار کتی ، مـــال اوپیسی مصر فوی لیکن ،عزت شرف او دخدای او درسول رضـــا پـری مناصلو ی دلوړ همت خلك زیږ رنګ لیتی سترګی اودایمان او وجـد ان فعالیت نه ډیلوی هو ! دوی مـال او متاع بالا خره خپل ټول مو جود یـت دخپل لښرا فت ځنی قربا نوی دوی د خلکو سره محبت او الفت راشه درشه) لپی کومی طمعی، منا فقت، ریا او فریب ځنی کوی هو : یقین دادی چـه)

دلور همت خلکو سره ایمان وی او د میراثی درس یی دسر او د ژوره پـــه
پرد و کښی نقش وی ریا فریـــب او منافقت دبی وجدا نه اوبی ایما لـــه
اوپه واقع کښی دتیتو اوبی فهمـــه خلکوخاصه کښی او طمع او تو قـــع
یواځی دپاك الله ځنی لری دا رنـــگ دلور عزم خلك زوی او پلار ورور او
قریب دوست او عزیز او اشنا چـــل اوپردی دحق اوعدا لت په مقـــا بـــل
کښی یو راز کښی او شخصیا تـــو او اجتما عیاتو فرق او توپیر ور ســره
وی دقانون مراعات له ظلم او بـــی عدالتی نه دفاع جامعی ته فا ئـــده
رسول خپله وظیفه بولی په دی لیاره کښی له مشکلاتو نه خوند اخلی اوپه
دا میدان کښی فنا خپل سعات کښی .

د شهوت د افراط او غلیان علاج

شك نشته چه درهر څه د پاره یوه معینه مر تبه ده چه په هغه
مرتبه کښی شی ښه ښکاری او هغه مرتبی ته پوهان داعتدال مرتبه وایی
په دامرتبه کښی افراطه او تفریطمنفوریت عامه لری او خلك ور ته
دمنفور یت په نگاه کوری او دا ځکه چی انسانی امتزاج لی دعدا لت
څخی کار اخستل شوی اود عنا صرو امتزاج دانسان په حقیقت کی
دعدالت مر تبه جوړه کړی نو ځکه پوهان دافراط مرتبه چی په کی
شدت او هدت دی اود تفریطه مرتبه چی په کی نقص او ضعف دی نه خو
ښوی او هرڅه ته پوه انسان داعتدال په نظریه کی خپل میلان ښکا ره
کوی هوخوراك اوسکل اواغوستل اومسکن اوازدواج او داسی نور
نور دژوندا نه د ستر ا حت شیان او خوښی دا ټول څانته داعتدال مراتب
لری چی په هغه مرتبه کښی ښه ښکاری او افرا طه او زیات والی یی
نقصان او مر ض دی چی علاج یی ضرور اوپه کاردی همدا وجه ده چی

پوهان ددی مرض دعلاج دپاره تجربی کوی اوپه لاندی دول سره دمرض
اقسامو علاج بنی.

۱ـ که د شهوت افراط له املـه د حرص په ماکو لاتو اومشروبا تـو
کی وی یعنی داچه سړی له ډیـره خونده اخستلو دښو لز یز وخوراکونو
او سکلو ځنی اخر داسی نیشه اوپر کاله شی چه شپه او ورځ په همـدی
فکر کی وی چی دخولی دمذی د پاره اود تخ دغت والی له املـه رو ا وی
اوکه ناروا څه پیدا کړی او همیـش شراب اوکباب دخلکو دوینو اوغوښو
ځنی ځان ته تیاره وی اود عا جـز او غریب اود وطن اود خاوری غمـه
ورسره نه وی حپل عزیز وخت کـوم چی سړی په کی کولی شی چـی د
جامعی دخدمت دپاره لار وکړی پـه چتی استرا حت تیروی او همیش بـی
آینه په لاس کی دخپل رنګ اوروغن نندارہ کوی دامرض واقعاً چه هرځو
مره دجامعی په افرادو کی سرا ئیت کوی هغو مره د ترقی او تعالی اونهضت
دپاره مضر تشخیص شوی نو ځکـه پوهان وایی چی ددی مرض لرو نکـی
خلك دی دعلاج دپاره دانسخه یاده کړی چی ما نو لاتو او مشرو با تو په
خساست او رزالت کی دی فکر کوی چی اخر څه تری جوړ یږی او اعتمـاد
په دی کی شته اوکه نه اودادی پـه فکر کی راولی چی که په دا سـی
استراحت ځان عادی کړم اخر ددنیا وضعیت خو په یو قرار سره نـه دی
یو وخت به داسی راشی چه داشیـان به راته نه پیدا کیږی نو به هلتـه

ابیاچی زه په داسی نرم او کرم سره ادی شوی یم را با ندی دژوندا نه
ساحه تنکه شی او بل ته محتا ج او حیران یم اونن چی زه د حـــا ل
دعاجزو اوغریبو خلکو څنی بی پروایم سبا نه دا ورځ په ماو یا زما په
شیر ینو خوا خوږو راشی څه به ووسږی بایددافکر ته راولی ایاکه وطن
او جامعه تیته او پر له شی نـــو دازما استرا حت به راته پاتی شـــی او
که نه او سږی یو وار دیته هم متوجه شی چی زه ولی دومره دهر څه څنـــی
غافله یم او یو قسی القلب انسـان رانه جوړ شوی نو به په داتصور لی
اخر دی مرحلی ته ور سیږی چـــی اخواسترا حت له کبله او پـــــه
خوراك او سلکو لی دحرص له امله را پیښه شوی له بلی خوا ســـږ ی
باید څیر شی چی خلك دعلم اوفضل اود عزت او احترام خا وندان شـــول
دنیا نن مخ په اسمان روانه شـــوه دسیند ونو مخه نیسی غرونه سوری
کوی دکلو کلو مزلونه په ډیره لږه موده او استرا حت سره طی لـــوی
حس دجها نگیری دمقتد رو خلکو پـه مغزو کی ننو تلی اوزه یوازی دځان په
ماحول کی هیله بیله دخوند اوشخوندغمه کوم ایا انسا نیت دادی اوکه بل
څه نو که انسا نیت داوی د حیوا ن او دانسان په منځ کی فرق څه ســـو
اوله بلی خوا سږی باید دینی اومذ هبی ار شا دات اود نوا بغو او ائمه و
دژوندا نه کار نامی داټول مطا لعـه او دعمل لاندی راولی هو افرا طـــه
په اکل او شرب کی حکماء وایی چی دډیرو امرا ضو سبب او علت کیـږی

دفارسی متل دی (کم بخور همیشه بخور) حضرت رسول صلی الله علیه وسلم فرما یی:

(کلو افی بعض بطنکم نقحـــــو ا)خودی په بعضی کیده کښـــــی یعنی توله مه دکه وی چی صحـــت موکا مل وی په بل حدیث کی راغلی (البطنة راس کل داء)

کیده سر دهر مرض ده.

۲ـ که حرص دمنی دشهوت لـــه املـه یعنی دښو ښایسته ښځو لـــه وجهی وی داهم چی افراط ته ورسیږی زیات نواقص لری اود سړی ځنـــی یو فاجر او فاسق سړی جوړ یـــږی اوپه نتیجه کی ضعف دبدن او فساد دعقل راولی اودا ځکه چی منی یـــو جوهر دی په انسان کی چی قـــوام دوجود په دی سره را ځی تر دا ســی حده پوری لاالطباء وایی چی داندا زه ځنی زیات مصر فول دشهوت نقصـــان دعمر هم راولی اود یو حدیث شریف مضمون هم په دا ډول دی ..

توټ: مراد دنقصان دعمر ځنـــی مو قت اجل دی له بلی خوا ډیرداسی خلك شته کله چی دشهوت په حرص کی ولیدلی نو بالاخر ټول شتـــه او موجودیت مال او پیسی تر ینه دلاسه ځنی تلی دی. امام غزالی علیه رحمت فرمایی چی حرص په شهوت کی پـــه مثل دظالم حاکم دی چی با چا ورسیږه په خپل اختیار پرینبی وی اخر دا ظالم حاکم دبدو استفادو له املـه در عیت

اتول مال اوپیسی په غدراور شو ت سره ځانته جمع کړی اوخلك دلته
اوعجز په میدان کښینوی او دولت تول مال او پیسی په غلطی او خیانتا
سره تس اونس کړی چی هیڅ نـه دملت اونه دحکو مت په دردو خـوری
همدا رنگه که دشهوت قوت دعقـل په حکومت سره مغلوب نشی دبـدن
اتول صالح مواداو اخلاط چه دخوراك څخی پیدا شوی دی دحرص له املـه
بیځا په مصر فیږی او دبدن تـول اعضا دضعف اوکمزوری سره مخا مخ
کوی او که دعقل په حکم سـره اودعدالت په قسم سره په منا سـبه
اندازی اقتصارو کړی دامثال دهغـه حاکم لری چی دخلکو سره دعدالت
په لیاره روان وی اود مملکت پـه مصالحو کی سعیه او زحمت وگا لی
دوطن ترقی او تعالی یی په خپل خیال او اراده او عمل کی وی اود وطـن
سرحدو نه او بند رونه ښه سا تـی داوه دامام غزالی صاحب نظر په نـو
سړی باید ښه متوجه شی چی شهوت تری داندازی څخی زیات بجاوز ونکړی
داچی څخی خلك حلاله ښځه په کور کی لری او بیاهم دحراموا و نا روا وی
شهوت پسی هڅه کوی دذی د پاره به خدای پاك خبر چی زما داو ینـا
تاثیر وکړی اوکه نه لیکن زه خپل مسو لیت پور ته کوم تو څکه دارنگه
خلکو دپاره وایم چی حلاله ښځه پـه خپل کور په مثال دیو مهیا طعا مدی
لکه طعا مچی و لږه دفع کـو ی همدا رنگه که یو سړی دحلالی ښځی
استفاده کوی دشهوت دغلیان دفع پری راځی نوکه یوسړی په خپل کور کی

لعلم دکفاف په اندازی لری او بیاهم کور په کور گدایی کوی او دا دیره
حیرت اودکم عقلی خبره ده په همدی قیاس سړی ویلی شی که خـــوك
حلاله ښځه په کور کی لری اوحرامو پسی سیعه کوی غته لویه گنـــاه او
وزالت دی ما دیو پوه تجر به لرو نکی سړی ځنی اوریدلی چی اکثره خلك می
لیدلی دی دبل چاد ناموس پســـی گرځی بیاچی تحقیق وشی دده دناموس
پسی نور گرځی دبلی خوا حکما وایی چی په زنا سره اکثرا امراض پیدا کیږی
هو په حدیث کی داهم راغلی چـــی دزنا په سبب سره دعمر او رزق ځنی
برکت ځی . په زبور شریف کـــی نیمل شوی چی دیر ه بلا په زا نـــی
رامسلطه کیږی چی درزق بر کت تری محوه کیږی دشهوت په حـرص
اکی اخر سړی دی مر تبی ته رسیږی چی له هر څو مره دډیرو ښځو ســره
وصل شی او فر ضاً چیر ته کو مـه یوه تری پاتی وی داخیال کوی چـی
په دی کی به یو لذت وی چی پـه نورو کی به نوی اودا خیال دسـړی
یوغټ جهالت دی که سړی وگړی شی چی په اعتدال سره دشهوت ځنی نار
واخلی نو به ددی مخکنیو مفا ســدو ځنی په حفظه کی پاتی شی اوس به
راشو دیته چی عشق په دوه قسمـه دی .

یو بهیمی عشق دی چی هغه عبارت ددی ځنی دی چی له امله داسنیلا
دشهوت ځنی سعیه او لو شش کړی چی دیو شخص زړه یاپه مال او یاپه
محبت لاس ته را ولی او خپل شـــوم مقا صد پـــه نـا جا یـــز ی

لیاری تر یـنه حا صل کړی داقسم عشق ته پوهان دچار پا یـو
عشق وایی صحیح ما غزه داقسم عشق په علمی اوفنی او حقیقی عشق بدـ
لوی همیش مطالعه او کار او عمـل او اصلاحی خدمت کوی او په داو ـ
سینه دلهو او لعب دپاره موقع نـه مساعده وی اطباء وایی دچا که پـه
دا قسم فاسد عشق پیدا شو کـو مچی غړوندی دکنترول او د شهو ت
دعة لدافتدا رنه لاړو دوایی داده چی دبدن دمهیجه وموادو علاج دی پـه
ادویه ومطفیه وسره وکړی اوددویم قسم عشق حقیقی عشق دی داعشق
ته پوهان دکاراوعمل اوداصلاح او خد مت اورحم اوعاطفی عشق وایی داعشق
دایمان اووجدان محکمی او تقو یـه راولی اوهرڅه ته غواړی چی دحقیقت
په نگاه وگوری داعشق دشر عـی اومذهبی احکا موز یات لحا ظ لوی ا و
سړی په دافکر کی اچوی چـــــی صرا ط المستقیم دڅه ځنی عبـار تا
دی حقیقی عشق کله دمجا زی عشق ځنی پیدا کیږی اوپوهان دغا هری
عشق ځنی معنوی عشق ته تر قـی لوی ددنیا په تولو موجود اتو نـی
دعشق اسرار موجود دی اوپه همـدا عشق سره موجود ات سکته اوپورته
اکیږی دنیا په عشق سره اباده ده او اخرت په عشق سره حا صلیږی ه
عشق خا وندان دخاوری او وطـن اودقام او قبیل سعادت عواړی اودبشر
دارامی او استرا حت دپاره زیـار اوزحمت باسی کوم هغه اشخاص چـی
عشق لری کار او عمل کوی دشرافت او غیرت او میرانی ژوند خو ښـوی

لټه او ټنبلی دبی عشقه خلکو کاردی په ژوره کی دعشق او ربدن په حرکت واولی اوپه سختومشکلاتو اوبکلیفونو کی همدا عشق دژوره ملهم کر ځی دعشق په سر شاره فضا کی عاشقازاو لوزی او په خپل عشقی حرکت کی چی کامیاب او بریالی شی نو دنیا روښانه وی او تاریخی مفاخر حاصلوی خلك دده په تاریخ ویاړی او دده دحیات وقایع دنورودپاره درس اوعبرت وی اوکه نا کامیږی بیاهم دحقیقی عشق حاوندان یوبل شانی لذت حس کوی اوپه دا نا کامی حالت کی رایی.

عاشقی را درد بدنامی خوش‌است-عاشقان را سوز ناکامی خوش است

مقصد دا چی حقیقی عشق ښه دی اودا د شهو ت‌دحرص په شمار کښی نه حسا بیږی کوم‌هغه اشخا ص او ځوا نان چه دشهو ت په مذ موم صفت سره‌موصوف دی دارنګ خلك دی زما پدی لیکنه کښی مطا لعه او تعمق‌وکړی او پدی وسیله دی د خپل مرض علاج وکړی .

دځوانانو دپاره

هیمی عشق اوپه شهوت کښـــــی افراطه اکثره د ځوانی په مرحله
کښی زیات پیښیږی نو ځکه غواړم چه لاندی ددی عنوان ځنی دځوانانو
دپاره څه د نصیحت په ډول ولیکم. دپښتو متلدی (د ځوانی یوه نیشه
وی نه چه همیشه و ی) حقیقت دادی چه سړی ته دوړ کتوب ځنی
لیولی تر مرګه پوری مختلف ادوار په مخه راځی او دژوندا نه پـــه
مداو جزر کښی کله صحیح اومعقول حرکات دسړی ځنی صادر یږی او
کله غلطه دحیات په اد وارو کښی دانسان ابتدا ئی حالت ته چه ګورو
دزانګو او دخاپو ړو یو قیصـــــی او هغه وړی وړی سلګی چه اطفال
ئی دمو ړپه مفارقت کښی تیروی—په یا درا وړو او دوړ کتو بحالت
ته ښه متو جه کیږو اوبیادو ړوکی ضعیف او کم زوری نړی نحیف وجود
ته ګورو کوم چه وړو کی په هغه حالت کښی هیڅ طاقت او قـدرت
ئلری او دو مره نه شی کو لی چه دځانه ځنی هیڅ قدری وشړی اوپه

کا سلسله کښتی ډوبرو کی وړا اوهاللو للو او ټوری وړی غټی جملی
خیال او چور ت ته راو لو سړی په تعجب کښی اچوی او ناڅا په به نی
داد غو لی ځنی وو ځی چه انسا ن لاڅه یو تما شا حیـــوان دی بیـــا
ګله چه د کور نی تر بیی په اثـرورو ورو غټیږی او خپل ځان اومو
او پلار پیژنی داو خت هغه نخری او خطا کا نی او ناپو هـــی چـــه
ډوبرو کی هلك ځنی بروز او ظهور کوی په ریښتیا که د پلار اواقرباو
مینه او محبت نی حامی نه شی نودا نشوو یلی چه یو وخت دی په
وړو کی پا ندی داسی حالت راشی چه دی په خپل خیر او شر پوه اوه
علم او زده کړی په اثر دی نا بغـه او مقتدر شی هو وا قعاً چه دپلا و
او مور او خپل او خپلوانو محبـــت او دانسا نیت روزو نکو اشخا صو
دانسا نیت عاطفی داو کړه چه یـو هلك نی دیته اماده کړو چه د مکتب
اوداستا ذ په تربیی سره ټـــــی دجا معی د خد مت دپاره تقد یـــم
کړل دوبرو کی دپاره دا په خیـــال کښی وه چه دابه یووخت په دردو
غوری او دمت ا وعقل په زور بـه مشکلا ت حل کوی او یو وخت به
داسی راڅی چه همد غه کـــــم کو تی وړو کی لیا لکی به غټیـــه
ونه وګر ځی او دسور ی لاندی به نی دجامعی او دوطن لمر وهلـــــی
اکسان را غو ند یږی او دو نی شاوخوانه به نی میوه حا صلوی نوا ی
هغو کسانوچه د ستا سودتر بیتی دپاره یو عالم اړزو ګانی خلـــك

لری ئوای د جا معی د باغ او بـــن گلانو کوم چـــه د ستا سو تخـــم
ملیار صا حب دستا سو دهستی اوځوا نی دپاره کر لی و لږ فکـر او
تعقل و کړی او داد ځوا نی نیشه او کیف کوم چه خدای پاك دستا ـ
سو نصیب کړی او دښه رنګ سم قدد کار ماغزه دو جود قو ت دستا ـ
سو رو زی شوی بیځا یه مـــــــه مصر فو ی بیاهم وایم چه فکروکړی
او وچ او لامده سره مه یو ځـای کوی د ځوا نی دوره دکار او فعا ـ
لیت دوره ده دافتخار اتو د کتلـو وخت دی نوا ی ځوا نانو خپل قیمتی
وخت باید عبث نکړی دعلم اودفن دزد کړی دپار ه داد ځوا نی عصـر
او زمانه غنیمته و گنی او پام کوی چه خطاو ی و نه کړی او خپـــل
ځلا نده تاریخ په بد بختی بـــد ل نکړی او دا ځکه چه داو یناد ستا ـ
سو چه وائی (د ځوانی یوه نیشـه وی نه چه همیشه وی) مسوولیت
نه پور ته کوی او خلك وائی چه هر شی خام وی پخیږی او سړ ی
چه یو وار خام شی نو بیا نـــــه پخیږی او دهمیش دپاره خلك ور ـ
ته په ځا مو متر گو کـور ی ای ځوا نانو د ستاسو قو ت داباسیـن
څپی وهی او دوجود وینه مو ډیـــره توده او گر مه ده دستاسو دظاهری
حواسو قوت خوعقل اوفکرد فعا لیت ځنی غور ځو ی نو دا چه تجر بـه
مولږه ده او زور مو ډیر دالازموی چه زیات احتیاط وکړی او دحوصلی
او ثبات ځنی کار واخلی خپله دقت وکړی اودبل پوه ورورځنی استثاره

وغواړی او په کراتو مراتو سره بیا بیا ټوار یخ مطالعه کړی او هلته پکښې رنګا رنګ و قا ئع اوقصی او عبر ت راوړو نکی صحنی وګور ی او داخلا قو کتابو نــه اودرسو نه او مذ هبی هـدایا ت او ارشا دات یاد کړی ځوا نان دی دا په یادو لری چه کار یوا زی په بدنی قو ت نه اجرا کیږی فیل ـ اواوښ په حیوا ناتو کښې ډیر غټ دی او د ځمر ی غو ندی قوت نورساکښې نه لری لکن بیا هم ګوره چه دوی د عقل او فکر په لومـــه کښې بند دی هیڅ حر کت‌تری نشی کولی دهوا مر غان په هوائی فضاءکښې الو زی او ډیر په سرعت‌سره مز لو نه قطعه کوی لکن سره‌ددی‌دصیاد په عقلی قفس کښې ددا نی او داو بو له غمه زیږ ی زیـــږی‌ستر ګی هر ی خواته اړو ی نـــو معلوم شوه چه‌هرڅه عقل کـوی اوعقل دسیند ونو مخه نیسی او پـه الو تکه کښې دشر ق او غـــرب‌دکلو کلو مزل په لږه موده کښـی ښه په استرا حت قطعه کوی اودعقل او فکـــر په رښا سره ډیـــر پیچیده مسایل حل کیږ ی کـــوم‌هغه جوامع چه د عقل په اهمیت‌او قدر پوه دی دهغوی په نزد عقـــلاءښه ښکاری او په هر قیمت چه‌وی دخپل عقلاؤ وخت نه ضایع کـــوی‌او دعقل مخه نه نیسی او پـــه داعقیده لری چه د بی عقله دوست‌ځنی هو ښیار دښمن ښـــه دی اود هو ښیار انو په نزد د ښمن کومه معنی نه لری او نه دا منلی شـی

چه دا فکار و په بدلون کښی دی اختلافی مسایل لیاره د حل هیڅ
قبو له نه کړی پو هان لکه دخپل ځان غو ندی پو هان خو ښو ی او
پو هان په ځان غو ندو ی اودهغوی خطاو ی عفوه کوی او په پاک ضمیر
سره تری کار اخلی پو هان هغـــه دی کوم چه خلك ددو ی پو هـــه
ومنی او په غیاب کښی ور ته خلك پوه وایی او دی و کړی شـــــی
چه د پو هی په قو ت دپو هانـــو کارو نه و کړی نو ی ځوا نا ن دی
په دا پوه شی چه کبر او غرور او بی احترامی او منا فقت او دوه رنگی
او دخلکو غو لو ل ددو ی اهمیـت او منز لت کموی او شرافت نـــی
داغی کوی دروغ او غدر او خیا نت ددوی داعتماد دپاره ښه رو ل نـه
شی لو پلو ی . ښه نوای ځمـــــا گرا نو ځو انانو او ای دجا معـــی
او دوطن دکار او عمل ځلمیو دستـــو سره خو ز مونږ یو عالم ارزو-
گانی دی او دستا سو دځوا نی دوره خو ځو مو نږ دامید محصو ل وه نو
تاسو چه داسی کوی چه بی دځانه ځنی نور هیڅ نو ینی او یا په یو
عالم غرور کښی ځان هم نه پیژ نی او خپل خوردلیا قت په خـــروار
حسابو ی د دیر تاسف ځای دی زما په عقیده چه دا خو شی تظا هرا ت
او بی ځایه پو چی ویناو ی چـــه کومی باید ددغو ویناو په عـــو ض
خپلو اظهاراتو ته د عمل جا مـــه ورو اغو ندی تر څو په جا معـــه
کښی د ځوا نانو څخه دا هیله اوامید وار ی تقو یه شی چـــه ای

ځوانه د ځان دپاره داخلا قو لمونه شه د کار اوفعا لیت ځوا ن داعتماد او دانسا نیت ځلمی- د افتخار پـــ نکه داباو او اجداد و یاد کاردجا - معی او دوطن رنا دافغان دخاور ی حافظه دپو هانو شا گر داو دناپو- هانو استاد او لیا رښو نکی شـــه او بس.

قناعت څه معنی لری

ټول عقلاء متفق دی چی دانسان دپاره یو د لوړو او صافو ځنـــی قناعت هم دی ددی صفت داستحکام له امله له یو ی خوا د قر ان پاک ارشا دات او دا حاد یثو هدا یـت اودسا لکینو او پوها نو کو ششی او له بلی خوا دقنا عت غلطـــه تعبیرو نه او دخلکو بیادقنا عت په پرده کښی ناوړه استفا دی سـړی دیته مجبور و ی چه څه نا څـــه دعلمی قوت په رڼا محتر مو لـــوستو نکو ته د حقیقی قنا عت معنی وا ضح کړی . زما په عقیده چه په مسلما نانو کښی همدا د قنا عـت معنی نه پیژ ندل او له بلی خـوا په قنا عت سره خلك غو لول یـود هغه اسبا بو څخه دی چی دمسلمـا نانو دبیر ته پاتی کیدو غټ علت شوی دی قناعت دیته نه وا ئـــی چه سړی به کارو نه کړی زحمت به نه باسی لاس په زنی به پـــه کونج او صو معه کښی ناست وی او دخلکو په شا به پیتی وی نـور به کتی او دی به ئی په خپا نت

سره خوری هو دیته قنا عت لـــه وائی دیته لتی او بیکار ی وا ئی
ځکه چه قناعت دخیا نت رنگ نلری نو که سړی په خیانت باندی دقنا
عت پرده واچوی او خلکو ته پـــــهمکر او حیلی داو ښه ئی چه فلانی
خو قانع سړی دی باید چه ددهسره معاو نت و شی او په داو سیلـــه
ځان مستریح کوی دا قنا عت نه دی بلکه غټ خیانت دی حضر ت رسول
اکرم صلی الله علیه وسلم فـــــرمائی چه د زحمت او تکلیف د ځان
او لاس ځنی دی خوره : قنا عـــت داهم نه دی چه ته به زحمت باسی
تکلیف به گالی ښه کار به کو ی او دهر چانه به دی د عقل قـــو ت
او فعا لیت ډیرو ی لکن ددی کبلـــه چه ته بو ټ پاکی نه خو ښو ی او
مدا حی در ته ښه نه ښکار ی نوځومره چه ته د غټ اجر لایق ئـــی
بل به په تا باندی هیڅ پرو انه کوی او داد هغه پروا نکول بـــه د
مستا دپاره څه چه دجا معی دپـــاره هم مضرو ی نو په داو خت کښـــی
چه د خپل حق اظهار نشی کو لی داقناعت نه دی دا جبن او لتی ده
داقنا عت نه دی چه هر څه بـــه لری لکن د بخل او حر ص له املهٔ
به ئی نه په خپله خور ی او نه ئی بل ته ورکوی او په دی خونه
اخلی او فخر به کوی چه دازما ده او دومره څه لرم ما ډیر خلـــــا
لیدلی چه سړه د غټی هستی دیـــو عاجز فقیر همت ځنـــــی دی زار او
قر بان شی . قناعت دیته وا ئـــی چه کار په کړی زحمت په کا لـــی

په خپل لاس او دمټ په قوت به په حلالی او جا ئزی لیار ی شه
دزو ندا نه او حیا ت دپاره پیدا کوی نو که سره د زحمت ځنی
پرته دحیا ت کفا ف دی نه شومو ندلی او یا دبل بدا په شا نی
مستر یحنه وی نو به په خپل سو کړ کاو جوار ی قنا عت کو ی
او دبل مال ته به ستر گی نه پتو ی ر حمن با با و ا ئی

قناعت می هسی خونډ په خولی کښی کیښود

چی وچ توک می په دهن کښی انگبین شو

هو که سړ ی په روا اوجائز ولیار ی زحمت باسی لکن
سره دزحمت نه څه په لاس ورنشی دلته نود قناعت معنی هم داده چه
په غلا ـ قمار ـ رشوت ـ اجتکار او په نورو نا جا ئزو لیار و به
تشبث او لاس نه پوری کو ی قناعت هم داد ی چه همیش به د ځان
او دخلکو دا رامی دپاره کته اوکار کوی او په خپل مال او پیسو کښی
به دعاجزا نو اوغر یبا نو دحقو ق لحا ظ هم ساتی هو هغه پوه اوپوره
قانع سړی دی چه سره د مال اوپیسو ځنی دجامعی د خیر او فلاح
لپاره کار کوی او په خپل مالی قوت سره اصلا حی مفا خر پیدا کړ ی
یعنی د مال لرو نکی انسان د پاره دقناعت همدا مخکی نښه او علا مه
ده چه څه مال به په اصلا حی لیارو کښی صر فو ی نه دا چه
نور به هم پسی حرص او بی فا ئدی جمع کو ل کو ی ه

مورِبه نشی هیڅ سړی بی قناعته کړئی څونه وی په زړو په سیم ډکه.

په زړ کړی او بعلم ترقناعت څنی معقول حرص ښه دی داو د قنا عت حقیقی معنی چه د ښه کار او زحمت پـــه آخر کښی به سړی تری فائده اخلی او دبل دغو لو لو دپاره به نـــی نه استعمالو ی او خپل اصلا حـــی حقو ق به د قنا عت په غلطی معنی بل ته نه پر یږ دی او په علم کښی به چه څومره ئی دلا سه کیـــږ ی دخلکو د مفاددپاره به نور هـــم زیات والی کوی .

د دوکتور سعید افغانی

آثار او تالیفات

الف : چاپ شوی آثار .

۱ ـ نـــــا بغه الشرق السیـــــدجمال الدین افغانی په عربی ژبه .

۲ـ شیخ الاسلام عبـــد الله الانصاری الهروی په عربی ژبه .

۳ـ تفسیر دیو لسم توک لپاره په دری ژبه .

٤ـ کلتور اسلام از نگاه علـــــم وفلسفه په دری ژبه دپوهنتون تخنیک محصلینو لپاره .

٥ـسید جمال الدین افغانی پـــه پښتو ژبه .

٦ـ دافغانستانو مختصر تاریخ په دری ژبه .

۷ـ روانشناسی د عالی دارالمعلمین درسی کتاب .

۸ـ فقه اسلامی د عالی دارالمعلمین درسی کتاب .

۹ـ صلح و آرامش از نظر اسلام.

۱۰ـ دلته دتوهنتون لنیزو ستونزو دحل لپاره .

۱۱ـ خطر جنگ هستوی .

۱۲ـ محمد (ص) رهبر بزرگ اسلام .

۱۳ـ الاشارات والتنبیهات د ابن سینا تالیف دسعید افغانی پښتو ترجمه دعلو مو اکاډمی چاپ .

۱٤ـ زندگی مسلمانان در اتحاد شوروی . په دری ژبه .

۱۵ـ تفسیر دیو لسم توګی لپاره په پښتو ژبه .

۱٦ـ عقاید و درسی کتاب .

۱۷ـ منطق درسی کتاب .

۱۸ـ دسولی او تفاهم دلیارې مبلغ په پښتو ژبه .

۱۹ـ د مرحوم مولانا سعید افغانی لیکنو څخه څو انتخابی مقالی په پښتو ژبه .

۲۰ـ مبادی اسلام په دری ژبه .

بله هغه آثار چه تر اوسه چاپ ته ندی رسیدلی او خطی نسخی موجودی دی .

۱ـ افغانستان تاریخاً و حضارتاً وکفاحاً په عربی ژبه .

۲ـ العقیدة الاسلامیته و آراء المعتزلة والاشاعره والماتریدیة واختلافاتهم په عربی ژبه .

۳ـ ادب القاضی په دری ژبه .

٤ـ امرا ض رو حی ومعالجه آن په دری ژبه .

٥ـ خلاصه اندرز هاو نصا یح سو دمند برای ستا ژ را ن قضانی په دری ژبه .

٦ـ الا خلاق والتصر ف په عربی ژبه .

٧ـ دتحو ل او تطور په باره کښی په پښتو ژبه .

٨ـ در باره ادیان ودین اسلام په دری ژبه .

٩ـ اخلا ق و فلسفه په دری ژبه .

١٠ـ ارکان ، شرایطه واحکا م نکاح په دری ژبه .

١١ـ حاکمیت قانو نی په دری ژبه .

١٢ـطبیب بگو مر ض چه و چاره چیست ؟ په دری ژبه .

١٣ـ سفر به اتحاد شو رو ی پـه دری ژبه .

١٤ـ تعبیر په پښتو ژبه .

١٥ـ دنجا ت او کا میا بی لیاره په پښتو ژبه .

١٦ ـ انقلا بی افکار هځی اوهیلی په پښتو ژبـه .

١٧ـ زما ژوند په پښتو ژبـه .

١٨ ـ دسعید افغا نی دا فکـا رو پلو شی (دو جیزو او ادبی تو لـو ټولـو عه) چی لاندی مطا لـب اومفا هیمو لرو نکی ده.

١ ـ تا ته وایم ٢ ـ کا شکـی ٣ ـ رنا بر ینبی ٤ ـ انتظا ردا رند

٥ ـ کور دیّ ورا نشه پدیّ دَو مره انحرا فیّ ٦ ـ استقا مة ٧ ـ کـــل

٨ ـ هوا او هو س ٩ ـ عهد اوپیمان ١٠ـ ویرانگی څهٔ غواړی ؟ ١١ـ

حال او احوا ل ١٢ ـ اشتبا هـــا ت١٣ ـ اژدهار حیوان حـارص ١٤ ـ

څوا نمردی ١٥ ـ منحو سه چیـر ی١٦ ـ الهی ، الهی، الهی ١٧ ـ شکر

چې مرګ هم شته ١٨ ـ دا کر یوان‌داو ښکو ډك دی ١٩ـ مضرات نداره

٢٠ـ دلته او هلته، ٢١ـ حسن‌خیر برای‌خیر٢٢ـ زورور ٢٣ـ همت

٢٤ ـ لکه چې خو ب وه (دپـر دیّ اخوا او دی خوا) ٢٥ ـ به مـردم

قافل ٢٦ ـ سبا ٢٧ ـ تصو یر حق‌در حا لت سقو طه ٢٨ ـ هیجـا ن

افکار نها یت زیاد است ٢٩ ـ آرمان ٣٠ ـ نا جوړه یم ٣١ ـ دژو ندرسالت

٣٢ ـ هیله ٣٣ ـ پر هیز کـار ی٣٤ـ به شورای عا لی قضاء ٣٥ ـ

دغیر ت پیغا م ٣٦ ـ کنا هکار ٣٧ ـستا په یاد ٣٨ـ هدف ٣٩ـ شـوه

او شر ٤٠ـ انحرا فی ذهنیت ٤١ ـلمر ٤٢ ـ زړ کیه ٤٣ ـ اختنـــا ق

٤٤ ـ التفکیر وا لشو ق و سیلـــه مو صلة الی السعا دة ٤٥ ـاساسی

هد ف ٤٦ ـ دارادی شهید ٤٧ ـزماافکار ٤٨ـ دوست ٤٩ـ سفسطه‌وایی

٥٠ ـ چیر ته ، کو م ځا ی‌تـــــه لاړ شـــم ...؟ ٥١ ـ ویر یـر

٥٢ـ ځولنی او بند یز ٥٣ـ تـــن٥٤ ـ مر ګ ٥٥ ـ سا

غوا ړم ٥٦ ـ ستا در حم اوعا طفی‌په امید ٥٧ـ ماشاء الله ٥٨ـ ما ته

ځوروی ٥٩ ـ ستا په یـــاد ٦٠ ـکا شکی ٦١ ـ صدا ٦٢ ـدواړه‌وایی

۶۴ په حقه یم ۶۳- جان وتنش میلز د ۶۴- څنګه تنظیم څنګه عدالت ؟
۶۵- په خپل سری ۶۶- داچنجالونه داسی نه حل کیږی ۶۷ -را تلو نکی
دنیـــا .

هو. پور ته قلمی اثار موجود او تر او سه چا پ ته ندی رسید لـی
چی دعلم دو ستا نو دزیـــــا ت معلو ما ت لپاره جمع بنـــــدی او
ضرورت په وخت کی به دهغـو ی په واك او اختیار کی ور کړه شـی.

دیادو لو وړ خبر داده چـه ددی علمی رسالی او اثر په چـــا پ او
نشر کښی داسلامی شئونو او اوقافو وزار ت دنشراتو ریاست او همدا-
رنګه دآریانا نشرا تی مو ســـــی مسئو لینو او کار کوونکو دیـــره
همکاری کړی د مرحوم داکتر سعید افغانی کورنی او دوســتان د دوی د
ګمك یادو نی زیار او زحمت څخه دزړه دکومی مننه کوی .

(وصلح خیـــر)